b: زورکی والہ یٔ :- لکه: چوکی - خولی - تنکی - انجلی . . . .
c: الف :- د بې سا نومونو په اخرکې راځي لکه: خندا - ژړا - ننځا . . .
www.libtool.com.cn
d: او ږد واو :- لکه: زانګو - ښارو - پیشو . . .
e: څرګنده (ي ) :- لکه: تیږي - دوستي - خپلوي . . . مګر په نسبتي صفتونو کې څرګنده (ی) د مذکر لپاره راځي لکه: دوبي - موچي - ربابي - توپچي . . . .
f: اوږده (ې) :- د مذکر لپاره نه راځي لکه: لرې - مڼې - کبلې - شیدې ملګرې . . . .

# دمؤنث دولونه

په پښتوکې مؤنث په څلور دوله دی:

۱- حقیقي غیرلفظي (ساه کښ بې نخښې) :- هغه دی چې دیو ساه کښ نوم وي او تانیث نخښه پکې نه وي . لکه :- خور- مور- ترور- لور- انږور . . .
۲- حقیقي لفظي مؤنث (ساه کښ نخښه وال) : هغه دی چې دیو ساه کښ نوم وي او د تأنیث نخښه هم پکې وي . لکه :- ښځه - غوا - اسپه - چرګه . . .
۳- غیرحقیقي لفظي مؤنث ( بې ساه نخښه وال) : چې د بې ساه شیانو نوم وي او د تانیث نخښه هم ولري . لکه :- لښته - پاڼه - غرمه - رڼا . . .
۴- غیرحقیقي غیرلفظي مؤنث یا سماعي مؤنث (بې ساه بې نخښې ) :- چې دیو بې ساه شي نوم وي او د تأنیث نخښه هم پکې نه وي . لکه : میاشت - ورځ - منګل - مېچن - برستن . . . .

# مؤنث جوړونه

په پښتوکې د مذکر او د مؤنث د پېژندنې لپاره دوه لارې موجودې دي :
یوه لاره داده چې د مذکر او مؤنث لپاره جلا جلا نومونه استعمال شویدي او بوتر

بله سره په لفظ کې ارتباط نه لري لکه : پلار- مور- لور- زوی . . . .

بله لار داده چې مؤنث نوم دیوې قاعدې سره سم دمذکرڅخه جوړشوی وي؛ او په لفظ کې یو تر بله سره ارتباط لري دې قسم ته قانوني مؤنث وايي اودې د جوړولو قاعدې په وروسته ډول دي؛

www.libtool.com.cn

۱- هغه مذکرنوم چې په آخرکې يې نرمه (ی) وي ؛ که چیرې په اول او منځ کې خج نه وي دمذکر(ی) په زورکې واله (ې) بدلیږي ؛ اوکه چیرې په اول کې خج راغلی وي نو آخره (ی) په اوږده (ی) بدلیږي اومؤنث ترې جوړیږي .

## اول قسم

| مذکر | مؤنث |
|---|---|
| اوسنی | اوسنۍ |
| کابلی | کابلۍ |
| لېونی | لېونۍ |
| پردی | پردۍ |

## دوهم قسم

| مذکر | مؤنث |
|---|---|
| ملکری | ملکرې |
| تږی | تږې |
| وږی | وږې |
| غلی | غلې |

۲- هغه نوم او صفت چې په منځ کې يې ساکن (واو) یا (ی)، راغلی وي ؛ که جمع لري او په جمع کې دمنځ توري یا په (الف) بدل شوي وي یا غورزیدلی وي ، نو په مؤنث کې دمنځ کومکي توري غورزیږي ؛ او په آخره کې څرګنده (ه) زیاتیږي لکه: مذکر: سوړ- زوړ- موړ- کوږ . . . . مؤنث: سړه - زړه - مړه - کږه . . . .

۳- هغه نومونه اوصفتونه چې په آخرکې يې اصلي توري راغلي وي یوازې د څرګندې (ه) په زیاتولو مؤنث کیږي لکه: مذکر: چرګ- زرګ- زړور- لیکوال . . . .
مؤنث : چرګه - زرګه - زړوره - لیکواله . . . .

یادښت : ټول صفات چې جمع نه لري او یا په جمع کې يې کومکي توري په الف نه

بدلیږي د دغه قانون لاندې راځي ؛ یعنی یوازې په آخرکې څرګنده (ه) زیاتیږي لکه د مذکر مثالونه :- تور- تول -غټ -اوم -اوږد .... مؤنث :- توره - توله -غټه-اومه اوږده ....

www.libtool.com.cn

٤ - په پښتو کې ځینې مرکب صفات هم شته چې مذکر او مؤنث لپاره یو شان راځي او غالباً په آخرکې کومکي توري موجود وي. لکه :- ښکاره -ځپه - داړ-آشنا یوانځې - نږدې - لاهو...

# مفرد او جمع

نوم د شمیر او کمیت له مخې په دوه ډوله دی ؛ مفرد او جمع .

**مفرد** :- هغه دی چې پر یو شي یا یو کس باندې دلالت وکړي لکه ؛ هلک - ونه - لرګی....

**جمع** :- هغه ده چې دیوه پرته یا تو شیانو او کسانو دلالت وکړي لکه :- هلکان - ونې - لرګي....

په پښتو کې ټولې جمعې د مفرد څخه د ځینو علامو په راوړلو جوړیږي د نارینه جمع علامې دا دی ؛ (ی - ه -ګان - اه - یان - ان - اونه) . او د ښځینه جمع علامې دا دي، لکه :- (ی - ې -ګانې - وې) . د نارینه جمع د جوړولو قاعدې په وروسته ډول بیانیږي ؛

۱- هغه مفرد نوم او صفت چې په پای کې نرمه (ی) راغلی وي په جمع کې یې دغه (ی) په څرګنده (ی) بدلیږي . لکه ؛

د مفرد مثالونه :- سړی - نوی - لوښی - اغزی ... د جمع مثالونه :- سړي - نوي - لوښي - اغزي....

یادونه :- په دې قسم نومونو کې ساه کښ نومونه یا صفتونه د مفرد په آخرکې د (ان) په راوړلو جمع کیږي ؛

د مفرد مثالونه : میږی - ښاپیری - زمری ... د جمع مثالونه : میږیان - ښاپیریان - زمریان ...

۲- هر نوم او صفت چې په آخر کې ښکاره (واو) یا الف یا اصلي (ه) راغلی وي د - (ګان) په راوړلو جمع کېږي. لکه:

www.libtool.com.cn

د مفرد مثالونه :- تالو - باڼخو - بابا - جولا - ساده ....

جمع یې : تالوګان - باڼخوګان - باباګان - جولاګان - ساده ګان ....

۳- ساه کښې صفات چې په آخر کې یې ښکاره (ی) یا ښکاره (واو) راغلی وي د (ان) په راوړلو جمع کېږي لکه:

د مفرد مثالونه :- موچي - دوبي - لاپو - خېټو ....

جمع یې :- موچیان - دوبیان - لاپوان - خېټوان ....

۴- هر صفت چې په منځ کې یې (واو) یا (ی) راغلی وي او دغه (واو) او (ی) په مؤنث کې غوږ زېدلی وي؛ نو په جمع کې یې هغه په (الف) بدلېږي او پای کې یې کوچنی (ه) زیاتېږي؛ د مفرد مثالونه لکه: پښتون - ړوند - روڼ - تریخ ... د جمع مثالونه لکه :- پښتانه - ړانده - راڼه - تراخه ....

۵- ځینې دوه توریز او درې توریز صفات د کوچني (ه) په زیاتولو جمع کېږي لکه د مفرد مثالونه :- غل - مل - مړ - شین - اوم ... د جمع مثالونه :- غله - مله - مړه - شنه - اومه ....

۶- هغه نومونه او صفتونه چې په آخر کې اصلي حرف راغلی وي که ساه کښې وي عموماً د (ان) په زیاتولو سره او که بې ساه وي د (ونه) په زیاتولو جمع کېږي د مفرد مثالونه :- چرګ - اوښ - ځوان - کور - کال .... د جمع مثالونه :- چرګان - اوښان - ځوانان کورونه - کلونه - توپکونه ....

## بنځینه جمعې

د ښځینه جمعو د جوړولو قاعدې او علامې په وروسته ډول دي:

۱- هر مفرد مؤنث نوم چې په آخر کې (ي) (واو) یا (الف) وي د (ګاني) په زیاتولو جمع کیږي لکه:-

www.libtool.com.cn

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ځانګو | ځانګوګاني | ژړا | ژړاګاني |
| پیشو | پیشوګاني | رڼا | رڼاګاني |
| ورشو | ورشوګاني | غوا | غواګاني |

**یادونه**:- ځیني پښتانه د (الف) نومونه د (وې) په راوړلو جمع کوي لکه:-
ژړا - ژړاوې، غوا- غواوې، رڼا- رڼاوې، انا- اناوې ....

۲- هر مفرد مؤنث نوم چې په آخر کې ښځینه (ی) یا زورکۍ واله (ۍ) راغلې وي که ساکښ وي په (ګاني) جمع کیږي او که بې ساه وي په زورکۍ واله (ۍ) راځي. لکه:

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| مامی | مامۍګاني | دوستي | دوستۍ |
| انی | انۍګاني | وداني | ودانۍ |
| بوډی | بوډۍګاني | دښمني | دښمنۍ |

۳- کوم مؤنث نومونه چې په آخر کې (ي) او (ه) راغلي وي په پوهمنو په (اني) جمع او په ناپوهمنو عمومي صفاتو کې جمع نه لري بلکه د مفرد او جمع لپاره یو شان راځي. لکه:-

**پوهمن** — **ناپوهمن او عمومي صفات**

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| ناوې | ناوياني | ورغومي | ورغومي |
| خوابښي | خوابښياني | تلونکې | تلونکې |

۴- هغه مفرد مونث نومونه چې په آخر کې یې (ه) وي په جمع کې یې (ه) په اوږده (ي) بدلېږي. لکه:

www.libtool.com.cn

| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
|---|---|---|---|
| کټه | کټې | مالکه | مالکې |
| خټه | خټې | پخه | پخې |
| پانه | پاڼې | چرګه | چرګې |

**یادونه:** هر کله چې ټول سماعي مؤنثات په آخر کې (ه) لري نو ځکه یې جمع په اوږدې (ي) سره جوړېږي. لکه: - غېږ- غېږې، لمن- لمنې، لار- لارې، ښنګل- ښنګلې ....

۵- د نسبتي صفاتو او شریکو صفاتو ښځینه جمعې له نارینه جمعو څخه د (ی) په زیاتولو جوړېږي. لکه:

| مذکر جمع | مؤنث جمع | مذکر جمع | مؤنث جمع |
|---|---|---|---|
| دوبیان | دوبیانې | ساده ګان | ساده ګانې |
| موچیان | موچیانې | آشنا یان | آشنایانې |
| کابلیان | کابلیانې | معلمان | معلمانې |

۶- د معنوي مؤنثاتو جمعې د یوې قاعدې لاندې نه راځي او په ورو ستر ډول جوړېږي. لکه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| مور- میندی | ترور- ترېندې | نجلۍ- نجونې | خور- خوېندې |
| بنه- بنې | لور- لوڼې | ترور- ترورانې | ورندار- ورنداري |

# د اسم حالتونه

د نوم حالتونه په دوه ډوله دی؛ معنوي او لفظي. لومړی غواړو چې د نوم

معنوي حالتونه وښيو: د نوم مشهور حالتونه څلور دي چې په وروسته ډول ښودل کېږي:

www.libtool.com.cn

۱- **فاعلي حالت**:- کوم نوم چې په جمله کې فاعل وي؛ يعنې يو کار له هغې څخه صادرشي او يا ورپورې تړلی وي هغه حالت ته فاعلي حالت وايي لکه: (زلمی خط ليکي - توريکۍ کورته ځي) په دې جملوکې: (زلمی او توريکۍ) دواړه فاعلي حالت لري.

۲- **مفعولي حالت**:- که چېرته يونوم په جمله کې مفعول واقع شي دغه حالت ته مفعولي حالت وايي لکه: بريالی ډوډۍ خوري - ملالي سبق وايي. په دې جملوکې (ډوډۍ او سبق) په مفعولي حالت کې دي.

۳- **ندايي حالت**:- که چېرته يونوم ته غږ يا ندا ورکړې شي نو د هغه نوم - ندايي حالت دی لکه:- ای وروره! ای هلکه! ای خورې! په دې جملوکې ورور هلک - خور... ندايي حالت لري.

۴- **ارتباطي حالت**:- که چېرې يو نوم د ارتباط د اداتو سره استعمال شي او د ارتباط توري ورځنې د مخه يا وروسته راشي نو هغه نوم ارتباطي حالت لري. او د - لکه:- له کوره راغلم - بازارته ځم - ملالی ته قلم ورکړه. په دې مثالونوکې: کور - بازار - ملالی - ارتباطي حالت لري او د ارتباط توري په کې (ته - له) دي. په پښتو کې د ارتباط توري دا دي:- په - پر - د - تر - له - ته - نه - څخه - ځيني - سره...

۵- که چېرې دوه نومونه د (د) پواسطه له يو بل سره ارتباط پيدا کړي نو هغه وخت ورته اضافي ارتباط وايي. په اضافي ارتباط کې لومړی مضاف اليه او - وروسته مضاف راځي. لکه:- د زلمي قلم - د اختر ورځ - د کابل مېنې. او که مضاف اليه د (مي - دې - يې) ضميرونه وي نو بيا مضاف د مخه راځي لکه: قلم مې راکه - کتاب دې څه شو...

# دنوم لفظي حالتونه

په پښتو کې نومونه د آخر د تغییر په لحاظ په څو ډوله دی، دلته د نومونو لفظي حالتونه په وروسته ډول ښودل کیږي:
www.lib.com.cn

۱- هغه نوم چې په نرمه (ی) ختم شوی وي په ندايي حالت کې مفتوح راځي او فتحه يې په (ه) ليکل کيږي په فاعلي او ارتباطي حالت کې د جمع په شکل اوړي يعني نرمه (ی) يې په څرګنده (ي) بدليږي او په نورو حالتونو کې په اصلي شکل راځي. لکه: ای زلميه! (ندايي حالت) زلمي خط وليکه (فاعلي حالت) په منګي کې اوبه نشته (ارتباطي حالت) ای سړيه - تور بالي سبق ووايه (اصلي حالت)....

۲- هغه صفت چې په منځ کې (و) وي په ندايي حالت کې مفتوح او په فاعلي او ارتباطي حالت کې د جمع په صورت راځي. لکه: ای پښتونه! واړه هلکانو خندل. بې ننګي د پښتون مرګ دی.

۳- کوم نومونه چې په صحيح حرف ختم وي په جمع کې (ان - ونه) راځي په ندايي حالت کې مفتوح او په نورو حالتونو کې په اصلي صورت راځي لکه: ای ځوانه! ای هلکه! ای باده! ای کوره!....

**يادونه**:- دغه راز نومونه د (له - تر - پې - نا) له اداتو سره هم مفتوح راځي. لکه:- بې فکره سړی - ناشکره دی - تر کوره پورې ځم - له کوره راغلم....

۴- سماعي مؤنث او په (ه) او په څرګند (ي) مختوم مؤنث په ندايي - فاعلي او ارتباطي درې واړو حالتونو کې په جمع بدليږي. لکه:- ای ميرمنې! نن د ښادۍ ورځ ده - دښمنۍ د پېر کورونه وران کړل....

۵- هغه معنوي مؤنث چې په صحيح حرف ختم وي په ندايي حالت کې

يې په آخر کې اوږده (ې) زياتيږي د (له - يې - تر) سره مفتوح او په نورو حالتو کې په خپل شکل راځي لکه :- اى مورې ! اى خورې ، له موره بل څوک خوږ نشته دا هلک يې موره دى ، دى تر موره ورسوئ .

www.libtool.com.cn

٦- د جمع او اسم جنس نومونه چې په څرګنده (ي) يا اوږده (ې) يا په (ه) مختوم وي په ندايي - فاعلي او ارتباطي حالاتو کې د آخر (ه - ى) په اوږد واو بدليږي. لکه : اى سرو - ميلمنو ډوډى وخورئ - اى ښځو . . . .

٧- هغه مذکر او اسم جنس چې په صحيح حرف ختم وي په ندايي - فاعلي - ارتباطي حالاتو کې يې اخرته کوچنى (و) زياتيږي. لکه : اى هلکانو ! د غنمو نرخ ښکته دى - اى ځوانانو ! د اوښانو بارونه درانه دي . . . .

## يادګيرنه

الف :- ټول صفات چې جمع نلري که چيرې موصوف يې جمع وي نو په دريو وارو حالاتو کې يې آخرته (و) زياتيږي. لکه : اى غمجنو ! لږو کسانو کار وکړ - اى شتمنو ! ډيرو خلکو خبرې وکړې . . . .

ب :- په پښتو کې مصدر د جمع مذکر حکم لري او په دغه دريو وارو حالاتو کې په آخر کې يې (و) زياتيږي. لکه : ډيرو ليکلو ستړى کړم - دا د خوړلو ښښلو وخت نه دى....

په مينځلو به يې سپين نکړې بابوجانه - هر لمڅي چې دوړې اصل يې تور وي

## نه بدليدونکي نومونه

هره ژبه د نورو ژبو لغاتو ته اړه ده او يوه اندازه دخيل لغات پکې موجود وي ، په پښتو کې هم د عربي او ځينې نورو ژبو لغات ننوتي دي - مګر دغه ټول لغات د پښتو د قانون تابع دي چې په وروسته ډول ښودل کيږي :

۱- هغه نومونه چې په پای کې (الف) راغلی وي لکه: حمید په خندا راغی - ای کاکا! دادا مې راته یو ښه قلم راوړ . . .

www.libtool.com.cn

۲- هغه نرینه نومونه چې په کوچنی (ه) ختم وي لکه: ای نیکه، زلمي ته خپل تره قلم ورباښه . . . .

۳- هغه نوم چې په پای کې یې څرګند (واو) یا اوږد (واو) وي لکه: ای ښاروپیشو غوښه وتښتوله . . . .

۴- هغه نوم چې په زورکي واله (ې) ختم وي لکه: ای انجلۍ- بلې دونو پاڼې هم توی کړې . . . .

۵- هغه نوم چې په اوږده (ې) ختم وي لکه: ای ملګرې- دې دوړی پخه کړه . . . .

۶- هغه نرینه نوم چې په څرګنده (ي) ختم وي لکه: ای دوبي- موچي بوټونه وګنډل . . . .

۷- هغه مذکر نوم چې په څرګنده (ه) سره ختم وي لکه: ای پیاده- مېلمه دوډۍ وخوړه . . . .

## په پښتو کې د پردو لغاتو قانون

هره ژبه د نورو ژبو لغاتو ته اړه ده او یوه اندازه دخیل لغات پکې موجود وي، په پښتو کې هم دعربي او ځینې نورو ژبو لغات ننوتي دي- مګر دغه ټول لغات د پښتو د قانون تابع دي چې په وروسته دول ښودل کېږي:

۱- هغه عربي مصدرونه او لغات چې په آخر کې یې (الف-ع-ح) وي په پښتو کې مؤنث استعمالېږي لکه: ابتداء- اوس د کار ابتداء ده، اصلاح- دووتر منځ اصلاح په کار ده . . . تفریح- ترفیع . . . مفاهمه- په هر کار کې یو تر بله مفاهمه

اوهر یو بیل بیل او ځانته بیل ډول، بیل رنګ ، بیل رسم الخط او بیل آوازونه لري اولکه څنګه چې یې ویونکي په ډلو او خپلو تقسیم دی دغسې د ژبې آوازونه تلفظ او د ادا طرز یې هم تقسیم دي او هر یو د بیل بیل دخپل او ډلې نمایندګي کوي لیکن باوجود د تلفظ او د ادا طرز د اختلاف نه د پښتو ژبې په لیک کې یو نه بېلېدونکی اتحاد موجود دی .

www.libtool.com.cn

۳- اګر که د پښتو ژبې سره باوجود د زوړوالي پوره ادبي پانګه نشته خو بیا هم چې څه موجود دي هغه د پښتو ژبې د هر دورې نمایندګي د پاره او د دغه دور د کړو وړو او خصوصیاتو پوهې له پاره کافي دي د پښتو ادب زده کړه به مونږ ارو مرو د سانسکرت او فارسي ژبې د ادب په تقابلی مطالعه ترسره کوو ولې چې دا دواړه ژبې د پښتو خویندې دي او بیا کشرې خویندې دي د دې کشرو خویندو د مطالعې په ذریعه مونږ د پښتو ژبې ریښو مطالعه کوو او د پښتو ژبې ریښې که مونږ رابرسېره کړونو دا په حقیقت کې د نورو ژبو سره لاس کول دي.

۴- د پښتو ژبې لیک د نورو ژبو د لیکونو غوندې د ښي خوانه چپ یا کیڼ طرف ته او د کیڼ طرف څخه ښي خواته حرکت کولای شي او د بلې خوا د آوازونو (اصواتو) په لحاظ دا ژبه د نورو څخه نهایته جامع ده ولې چې په دې ژبه کې د نورو ژبو د الفاظو د جذب کولو اهلیت زیات دی په اردو ، عربۍ ، فارسۍ ، انګرېزۍ کې یو داسې لفظ نشته چې کوندې پښتو رسم الخط کې نه لیکل کېږي مګر د پښتو ډېر داسې توري او لفظونه شته چې دغه ژبو کې یې هڅو درک نشته لکه د انګرېزۍ ژبې MOTOR ته پښتو رسم الخط کې د موټر شکل ورکړی او دا لفظ یې خپل کړی دی لیکن په انګرېزۍ د رنړا (رڼا) لفظ ته سم ځای نشته که ډېر زور وي نو په دغه ژبه کې به ورته د (RANA) یا د — (RANRA) شکل ورکړ کېږي او د (رڼا) د دواړه انګرېزي شکلونه د (رڼا)

ښه ده . توقع ؛ ډېره توقع لرم ... اطلاع ـ موضوع . . .

۲ ـ هغه فارسي یا عربي الفاظ چې په پای کې یې اوږد (واو) یا څرګنده (ي)
www.libtool.com.cn
یا (اه) راغلي وي مؤنث استعمالیږي. لکه ؛ ګفتګو ـ ډېره ګفتګو مه کوه، جستجو ؛ ـ جستجو یې ګارده. دانشګاه ـ دا دانشګاه ده . مثنوي ـ رباعي ـ آګاه . . . .

۳ ـ دعربي هغه ټول مصدرونه او کلمې دغه شان دنورو ژبو هغه ټولې کلمې چې په آخر کې یې اصلي توري وي مذکر استعمالیږي لکه ؛ اعتدال ـ په هر کار کې اعتدال ښه دی. تعصب ؛ تعصب ؛ بدکار دی . . . .

۴ ـ ټول عربي صفتونه چې په اصلي حرف ختم وي په پښتو کې د (ه) زیاتولو مؤنث کیږي لکه ؛ خدمتګار ـ خدمتګاره ـ عاقل ـ عاقله ـ فاضل ـ فاضله . . . .

۵ ـ هغه عربي مصدرونه او کلمې چې په (ه) یا په مفتوح (ع ح) ختم وي په آخر کې د (ې) په راوړلو جمع کیږي لکه ؛ مناظره ـ مناظرې ـ معامله ـ معاملې ـ رقعه ـ رقعې . . . .

۶ ـ هغه عربي مصدرونه او نورو ژبو کلمې چې په آخر کې یې (الف) وي د (ګانې) او (وې) په راوړلو جمع کیږي لکه ؛ التجا ـ التجا ګانې ـ التجاوې ، دعا ـ دعاګانې دعاوې . . . .

۷ ـ کوم نومونه چې په (ع ح) ختم وي او مخکې ترې (الف)، (واو) پیښ ، ی) وي او دغه راز هغه نومونه چې په اوږد (واو) یا څرګنده (ي) ختم شوی وي دغه ټول د (ګانې) په راوړلو جمع کیږي لکه ؛ اطلاع ـ اطلاع ګانې ـ اختراع ـ اختراع ګانې ارزو ـ ارزوګانې . . . .

۸ ـ هغه عربي نومونه او مصدرونه چې په اصلي حرف ختم وي ساه کښې یې په (ان) او بې ساه یې په (ونه) جمع کیږي . لکه ؛ علم ـ علمونه ، انعام ـ انعامونه انقلاب ـ انقلابونه . . . .

۹- که چیرې عربي نومونه او مصدرونه چې د جمعې په ډول استعمال شي نو په پښتو کې د جمع مذکر حکم لري. لکه: انتامات یې وکړل - نور اطلاعات راغلي دی....

www.libtool.com.cn

۱۰- د ترلین عربي جمعې په آخر کې په ندايي - فاعلي - ارتباطي حالاتو کې کرچینی (و) زیاتیږي لکه: ای حوادثو! مطالبو فکر کول ښه دی. حوادثو ډیر پوهولم....

۱۱- هغه عربي نومونه چې په (ع ح) منتوحه سره او په (ه) ختم لوي. په دري واړه حالاتو کې یې (ه) او فتحه په (ی) بدلیږي لکه: داد مناظري وخت نه دی. د فتح په وخت کې خوشحالي ډیره وي....

۱۲- که چیرې (بي - له - نا) په یوه مفرده کلمه کې داخل شي په آخر کې یې د فتحې په ځای (ه) راوړل کیږي په ندايي حالت کې په آخر کې (ه) زیاتیږي. لکه: بې مطلبه کار څه پکار دی. څرګنده یې له حاله خبر نشو...

# ضمیرونه

ضمیر هغه کلمه ده چې د نوم پر ځای د تکرار د لرې کولو لپاره راځي. ضمیرونه په پښتو کې په څو ډوله دي او مشهور قسمونه یې دا دي:- اشاري ضمیرونه شخصي ضمیرونه - استفهامي ضمیرونه - مبهم ضمیرونه - ربطي ضمیرونه...

# شخصي ضمیرونه

هغه دي چې پر یو معین شخص یعنی په متکلم - مخاطب او غایب باندې دلالت وکړي؛ شخصي ضمیرونه د استعمال له مخې په پیوست (متصل) او ناپیوست (منفصل) باندې ویشل کیږي. متصل ضمیرونه هغه دي چې یوازې نه راځي او تل د فعل سره پیوست استعمالیږي ټول متصل ضمیرونه دا دي:

م - د مفرد متکلم دپاره لکه په ځم کې .

و - دجمع متکلم دپاره لکه ځو . . . .

www.libtool.com.cn

ی - دمفرد مخاطب لپاره لکه ځې . . . .

ئ -است - دجمع مخاطب لپاره لکه راغلئ - راغلاست . . . .

ي - ه - دمفرد مذکر غایب لپاره لکه په تللي - کرځیده کې . . . .

ل - دجمع مذکر غایب لپاره لکه؛ هلکان .

ه - دمفرد مؤنث غایب لپاره لکه؛ له خوبه پاڅیده .

ې - دجمع مونث غایب لپاره لکه ؛ پوهنځي ته ولاړې .

ي - په حال او مستقبل کې دمفرد - جمع مذکر او مؤنث لپاره لکه زلمی وختي له خوبه پاڅي - ملالۍ چای څښي - هلکان سبق وايي . . . دغه متصل همیشه د افعالو سره پیوست راځي نوځکه فعلي ضمیرونه هم ورته وايي . متصل ضمیرونه دوه حالته لري - فاعلي او مفعولي - په لازمي افعالو کې د فاعل په حیث او په - متعدي افعالو کې د مفعولي په حیث راځي خو په استعمال کې منفصل ضمیرونه هم ورسره راتلای شي .

| فاعلي حالت | | مفعولي حالت | |
|---|---|---|---|
| مفرد | جمع | مفرد | جمع |
| متکلم - زه کرځم | مونږ کرځو | زلمی زه وپیژندلم | زلمي مونږ وپیژندلو |
| مخاطب - ته کرځې | تاسو کرځئ | زلمی ته وپیژندلې | زلمی تاسي وپیژندلئ |
| مذکر غایب - دی کرځي | دوی کرځېدل | مادوی ولیده - ماداولیده | مادوی ولیدله - مادوی ولیدې (مؤنث غایب) |

یادونه :- متصل ضمیرونه یوازې په ماضي فعلونو کې مفعولي حالت لري او په حال او استقبال کې تل د فاعل په حیث راځي .

# منفصل ضمیرونه

هغه دي چې د بلې کلمې سره پیوست نه راځي بلکې ځانته او جلا لیکل کیږي
www.libtool.com.cn
منفصل بیا هم په دوه ډوله دي. مستقل (خپلواک) او غیر مستقل (ناخپلواک) دي.
خپلواک یا مستقل په وروسته ډول ښودل کیږي:

زه - ما - د مفرد متکلم لپاره    ته - تا - د مفرد مخاطب لپاره
مونږ - د جمع متکلم لپاره    تاسې - د جمع مخاطب لپاره
دې - ده - د مفرد مذکر غایب لپاره. دوی دې غایب لپاره که څه هم د دریم سړي حاضر وي
هم استعمالیږي.

۱ - دې - د مفرد مؤنث لپاره    دوی - د جمع غایب لپاره.
هغه - د (غ) په زورکې د مفرد مذکر غایب لپاره - لیرې غایب لپاره. هغوی - د جمع
غایب لپاره.

دغه ضمیرونه د استعمال له مخې بېل - بېل حالتونه لري چې په وروسته ډول
بیانیږي:

۱ - په دغه ضمیرونو کې (ده - هغه - هغې) یوازې فاعلي حالت لري یعنې د متعدي
ماضي د فاعل په حیث استعمالیږي او په نورو حالتو کې نه راځي لکه:

| مؤنث | مذکر |
|---|---|
| دې خټکی وخوړ | ده خټکی وخوړ |
| هغې خټکی وخوړ | هغه خټکی وخوړ |

۲ - (ما - تا) دا دواړه ضمیرونه په متعدي ماضي کې د فاعل په حیث په حال
استقبال او امر کې د مفعول په حیث راځي لکه:

| مفعولي حالت | فاعلي حالت |
|---|---|
| توربالي ما وويني | ماخط وليکه |
| توريالي تا ويني | تاخط وليکه |
| زه تا باغ ته بيايم | ته ما چيري بيايې |

www.libtool.com.cn

۳-(زه - ته) دا دوه ضميرونه هم فاعلي حالت لري اوهم مفعولي؛ په متعدي ماضي کې دمفعول په حيث، او په لازمي افعالو کې او متعدي حال او استقبال کې دفاعل په حيث راځي لکه؛

| مفعولي حالت | فاعلي حالت |
|---|---|
| زه زلمی وليدم | زه زلمی وينم، زه ځم |
| ته زلمی وليدلې | ته زلمی وينې، ته ځې |
| . . . . . . . . . | زه به خط وليکم - زه تللی وم |
| . . . . . . . . . | زه به خط وليکم - ته تللی وې |

۴- (دی - دا - هغه) دا ضميرونه هم دوه حالته لري فاعلي او مفعولي، خو فاعلي حالت يې په متعدي افعالو کې په حال او مستقبل پورې خاص دي او مفعولي حالت کوم اختصاص نه لري؛ په ماضي او حال دواړو کې راځي لکه؛

| مفعولي حالت | فاعلي حالت |
|---|---|
| ما دی وليد، زه به دي بوزم | دی خط ليکي، دي به خط وليکي |
| ما هغه وليد، زه به هغه راولم | |
| ما دا وليده، زه به دا راولم | |

۵-(مونږ - تاسې - دوی - هغوی) دغه څلور د جمع ضميرونه د استعمال له مخې هيڅ اختصاص نه لري په ماضي او حال کې هم د فاعل په حيث استعماليږي

اوهم د مفعول په حيث لکه :

| فاعلي حالت | مفعولي حالت |
| --- | --- |
| مونږ سبق ووايه | توريالي مونږ وليدو |
| تاسي څه کوئ | توريالي تاسي وليد لئ |
| دوی به زمونږ قلم راوړي | توريالي دوی وليدل |
| هغوی کورته لاړل | هغوی يې ووهل |

www.libtool.com.cn

٦- په پورته ضميرونوکې يوازې (زه - ته - دی - دا - هغه) ارتباطي حالت نلري او نورټول نوموونه د ښکاره نوم ارتباطي حالت لري او دا ارتباط له تورو سره استعماليږي لکه : ما - ماته څه وايي !

# فعل

فعل هغه کلمې ته وايي چې د څه کار د کيدو يا نه کيدو اظهارترې کيږي او د زماني پورې تعلق ولري لکه : ۱- تلخط وليکه ، ۲- ته خط ليکې ، ۳- ته به خط ليکې .

پدې پورته جلوکې د خط ليکلو کار شوی دی او د زمانو سره يې تعلق هم شته . د لومړۍ جملې څخه تېره شوې زمانه د دوهمې جملې څخه د (حال) زمانه او د درېيمې جملې څخه راتلونکې زمانه څرګندېږي .

د فعل د قسمونو ويش په درې ډوله کيږي :

۱- لازم او متعدي ، ۲- مجهول او معروف ، ۳- مثبت او منفي .

د لازم او متعدي فعلونو تعريف هم هغه دی کوم چې د لازم او متعدي - مصدرونو دی . يعنې لازم فعل مفعول نه غواړي . او متعدي فعل د فاعل څخه علاوه يو يا زيات مفعولونه هم غواړي .

لازم فعلونه دلازم مصدرونو نه او متعدي فعلونه د متعدي مصدرونو څخه جوړېږي دلازم فعل نه متعدي فعل جوړولو د پاره اول د دغه لازم مصدر څخه متعدي مصدر جوړولی شي. او بیا ترې مطلوبه فعل او هغه صیغې جوړېږي.

www.libtool.com.cn

د مجهول او معروف فعلونو تعریف هم د مجهول او معروف مصدرونو په شان دی. په مجهول فعلونو کې کوم مفعول چې د فاعل کار ورکوي (یعنی هغه مفعول چې د فاعل نوم یې نه وي ښود لی شوی). د یوه معروف فعل نه مجهول فعل جوړولو د پاره هم اول د دغه معروف فعل د مصدر نه مجهول مصدر جوړېږي او بیا ترې مطلوبه فعلونه او صیغې اشتقاق منځ ته راځي.

## د مصدر پېژندنه

مصدر یوه عربي کلمه ده چې د لغت له مخې څخه د وتلو ځای معنیٰ ورکوي مګر په اصطلاح کې یو خاص فعلي نامه ته ویل کېږي. او یا په بل عبارت مصدر هغې کلمې ته وايي چې د فعل او کار نوم وي او زمانه ترې نه مراد نه وي.

پښتو مصدرونه د جوړښت له مخه په پنځه ډوله دي:

۱- لام والا:- چې په آخر کې د «ل» نخښه وي لکه: ساتل- وتل- لرل.

۲- ول والا:- چې په آخر کې یې د «ول» نخښه وی لکه: کړزول- پوهول.

۳- یدل والا:- چې په آخر کې یې د «یدل» نخښه راغلی وي لکه: ګرځېدل- پوهېدل.

٤- کول والا:- چې په آخر کې یې د «کول» نخښه راغلی وي لکه:- ښکلاکول- رڼاکول.

۵- کېدل والا:- چې په آخر کې یې «کېدل» راغلی وي لکه: ښکلاکېدل- رڼاکېدل.

د پښتو مصدرونه د معنیٰ له مخې پر درې ډوله دي:

۱- لازمي مصدرونه:- چې مفهوم یې یوازې په فاعل تامېږي او مفعول نه غواړي لکه: وتل- تلل او نور.

۲-متعدي مصدرونه:-چې مفهوم یې یوازې په فاعل نه تمامیږي او مفعول هم غواړي او په معلوم او مجهول باندې وېشل کیږي. معلوم - لکه: ساتل. او مجهول لکه وهل کېدل.

۳-حکمي متعدي مصدرونه:- چې په معنیٰ کې لازمي وي او په حکم کې متعدي وي یعنې د (ما-تا) له ضمیرو سره استعمالیږي لکه: خندل- ژړل.

www.libtool.com.cn

❖ • ❖ • ❖

www.libtool.com.cn

# دبیان علم

بیان په لغت کې ایضاح اوښکاره کولو ته وایي . او په اصطلاح کې هغه پوهنه ده چې دهغې په ذریعه کولای شو چې یو مضمون په بېلو بېلو عبارتو کې بیان کړو او په مختلفو قالبونو کې یې واچوو. مثلاً که مونږ وغواړو چې د زلمي زړه ورتیا بیان کړو. نو په دې لاندینو بېلو بېلو عبارتو کې دا مطلب ښکاره کولی شو:

۱- زلمی دزمري په شان زړه ور دی.

۲- زلمي په زړه ورتوب کې زمری دی.

۳- زلمي زمری دی.

٤- زلمی دزمري شېدې رودلي دي.

۵- دزلمي په سینه کې دزمري زړه پروت دی.

دبیان علم له دریو شیانو څخه بحث او څېړنه کوي: تشبیه - مجاز او کنایه.

## تشبیه

که یو شی دبل شي سره دهغه مشترک وصف په وجه چې د دوی په منځ کې پروت دی مشابه شي تشبیه بلله کېږي لکه په دې بیت کې:

د خپل عمر شپې اوورځې چې په زړه کړم
هسې دروې چې ګویا د سیند اوبه دي

www.libtool.com.cn

په پورتني بیت کې عمر مشبه اود سیند اوبه مشبه به بلل کیږي. تیریده د دوی په منځ کې یو شترک وصف دی چې شاعر په همدغه وجه خپل عمر د سیند له اوبو سره تشبیه کړی دی.

دتشبیه نور مثالونه دا دي:

سرې سرې او ښې دې پرمخ عبدالقادره
وخپل یار ته دیاقوتو مهماني ده

چې پرمخ دې کړه خواره دزلفو ولونه
زړونه زانګي په هر تار لکه ګلونه

نن شیدا له ځانه سیږ دی لکه شمع
ستا محفل ته یې بې سره کړدن راوړ

دا زما له غمه شین زړه پکې خیال دیار د شونډو
هسې رنګ زیب وزینت کا لکه می په شنه پیاله کې

دا هلال دی چې لیده شي په شفق کې
که په لاس دګل اندامې سپین وښی دی

چې روزي یې استغنا په شان دآب شي
بې مرهمه یې رغیږي پرهارونه

لکه بت چې په رنو سترګو اوده وي
هسې زه په بیدارۍ کې وړی خواب یم

آواز ویستو نه پاتې راځي همداسې د فارسي ژبې لفظ (چادر) پښتو کې د (څادر) په ډول ځای شویدی او داسې نور ډېرمثالونه شته دی. همدارنګه په عربي ژبه کې د (پ) توری هډو نشته او د (پ) توری په ځای د (ب) توری استعمالوی لکه دمثال په ډول پاکستان ته (باکستان) وايي او داسې نور.

www.libtool.com.cn

۵- پښتو لفظ يواځې د پښتو د ژبې نمايندګي نه کوي بلکې دا د پښتو داجتماعي ولس ژوند د ټولو توکو ثقافت، دود، دستور، ننګ، غیرت او داسې نورو نمايندګي هم کوي. ټول ستر اديبان په دې خبره يوه خوله دي چې پښتانه پښتو ته اسلام وايي او ځکه يو پښتون هم د اسلام نه په غير بل مذهب يا دين سره تړون نه لري او هرکله چې يو پښتون اسلام نه - واوري نو هغه پښتو ځنې وځي خوسره د دې پښتو وينکی خوي ليکن پښتون نه شي بلل کېدای - دا پښتو ده ؟ دا پښتو دي ته وايي ؟ دا هغه جملې دی چې په پښتونخوا کې هره ورځ ویل کېږي او اورېدل کېږي د دې جملونه دا واضحه ده چې دلته د پښتو مطلب څه نور څه دی او هغه د اسلام ځنې نور څه نه دی نو ځکه د پښتو ژبې مطالعه د اسلام مطالعه ده.

۶- نن سبا په فضايي دورکې د رېډيو او تېلوېژن د علمي افاديت څخه څوک هم انکار نه شي کولی او زمونږ په علم او معلوماتو کې هم بې اندازې زياتوالی راځي خو داده چې د رېډيو او تېلوېژن ژبه د ويونکو ژبې نه لږه بیله او مستنده وي نو ځکه د دې ژبې ويونکی ډېر خلک په ځينو تورو، فقرو، لفظونو په اورېدو او ليدلو پوره پوره نه پوهېږي په کار ده چې د دې ژبې ويونکی خلک دا ژبه د تمريناتو لاروچارو په رڼا کې داسې زده کړي چې

د دنیا د مال په تللو دلګیر مشه
مات اغزی دې له پښو خېږي زهیر مشه

www.libtool.com.cn

## د تشبیه غرض

د تشبیه غرض اکثره ومشبه ته راجع کېږي نوکله کله د تشبیه څخه غرض د مشبه دحال بیان وي او ځیني وخت یې مقدار، ښکلا، ښه والی، بدوالی یا داسې نورې خواوې په نظر کې نیول کېږي. مثلاً پدې بیتونو کې د تشبیه غرض دمشبه دحال بیان دی.

لکه ونښلي مرغۍ په سست دام د سلولومو
هسې زه پرېشانو زلفو کې یستم په کشاله کې
هسې کار په ماد ترکو خندا وکړ
لکه ووژني یو بل په مسخرو کې
د میزان په شان مې علم په پاسنګ دی
هیڅ خبر نه یم له خپله بیش وکمه

او په دې بیتونو کې دمشبه مقدار بیان شوی دی:

خو به شمېرم زه غمونه د هجران — هومره به یې بردي لکه ریګ د بیابان
داباران نه دی چې اوري له آسمانه — د مرغانو په آسمان باندې ژړا شوه
ستړی کېږی مین زړه په فریاد کله — لکه دود هسې داور په لمبه سوځي

په دې تشبیهاتو کې د تشبیه غرض دمشبه ښکلا او ښایست دی.

دا زماد قاتل لاس دی نه پوهېږم — که تر باغ وتلی ښاخ دی د سرو ګلو
زر غونو څمکو کې ځل کا لکه ستوري — چې پر هسک باندې ځلېږي سپین ګلونه

په سپين مخ يې د عرق دانه ليده شي　　　د سحر په وخت که ستوری د سبا ده

## د تشبيه دوې خواوې

www.libtool.com.cn

تشبيه دوې خواوې لري چې يوې خواته مشبه او بلې خواته يې مشبه به وايي تشبيه د دوو خواوو په لحاظ پر دريو برخو ويشله کيږي :

الف - مرکبه او مفرده تشبيه :- د تشبيه يوه خوا مرکبه او بله مفرده وي، يا دا چې دواړه خواوې مرکبې يا مفردې وي. نو ځکه په دې برخه کې څلور ډوله تشبيه راځي :

۱- چې مشبه مرکب او مشبه به مفرد وي لکه کاظم خان شيدا چې وايي :

سنبه اتکل دې شيدا وکړ نشته ځای د فرياد چا ته
لکه شمع پټه خوله ځي په ژړا له دې محفله

په پورتني بيت کې شاعر په داسې حال کې چې پټه خوله په ژړا له محفله ځي يو ترکيبي حال لري او مشبه دی - مګر شمع چې مشبه به دی مفرد واقع شوی دی.

حميد ماشوخيل وايي :

د يار غم راسره څه وايم چې څه کړي
تل مې د زړه وينې روي لکه روی

د يار غم په داسې حال کې چې د مين د زړه وينې روي يو ترکيبي حال لري او مشبه دی مګر روی چې مشبه به راغلی دی مفرد دی :

۲- چې مشبه مفرد او مشبه به مرکب وي. لکه پير محمد کاکړ چې وايي :

آه مې لکه دود له درد و سوزه تر خوله وخوت
چتر مې پر سر شو سايبان راسره درومي

په پورتني بيت کې (آه) مشبه او مفرد دی. او (دود) په داسې حال کې چې

دمین له خولې څخه راوتلی او وروسته بیاله هغه څخه چتر او سایبان جوړشوی دی. او دمین پرسر ورسره دروې یو ترکیبي حال لري او مشبه به دی. حمید ماشوخېل وایي:

www.libtool.com.cn

وبورجل ته مې دلدار راځي په ورو ورو
که چمن ته نوبهار راځي په ورو ورو

(دلدار) مشبه او مفرد دی. مګر (نوبهار) چې ورو ورو چمن ته راځي یو ترکیبي حال لري او مشبه به دی.

۳- چې مشبه او مشبه به دواړه مرکب وي لکه پیرمحمد کاکړ چې وایي:

رنګ د مخ دې په عرق کې نمایان دی
د ګل عکس څرګند پرې په شبنم کې

په پورتني بیت کې دمخ رنګ په عرق کې مشبه او د ګل عکس په شبنم کې مشبه به دی او دواړه مرکب دی. پدې لاندې بیتونو کې مشبه او مشبه به دواړه مرکب راغلي دي:

بوی پېزلفو کې زما ګلبدن را وړ — که په دام کې یې آهو دختن را وړ
توري زلفې دې په سپینو لیچو زانګي — ښاماران دي د چندنو په ښاخونه

٤- چې مشبه او مشبه به دواړه مفرد وي، لکه پدې بیتو کې:

عاشقان یې د دنیا له غمه خلاص کړه
عاشقي د سلیمان پاچاغمی دی

ښه چې زړه مې مسافر شو ستا په لورې
عقیق لا شي قیمتي چې وطن پرېږدي

دیار غم مې لکه تاج دی په سر ایښی
نور غمونه مې همه لاندې تر پښو دي

په پورتنیو بیتونوکې عاشقي، زړه او د یارغم مشبه او د سلیمان پاچاغمی عقیق او تاج مشبه به دی چې ټول مفرد راغلي دي.

www.libtool.com.cn

## دتشبیه ادات

هغه توري چې پر تشبیه باندې دلالت کوي د تشبیه ادات بلل کېږي لکه د (څېر) او (دود) توري چې پدې لاندې بیتوکې راغلي دي:

یوه ورځ به بندیوان دباز په څېر شي
چې دې شپه او ورځ خوراک شو د قام غوښه

چې دخیال په لاس کې تن د دلبر نیسم
دهلک په دود په لاس کې قلم نیسم

په پښتوکې دتشبیه مشهور ادات دادي: لکه، څېر- دود- شان- غوندې ته به وایې- ته وا- سیال. مثالونه یې په لاندې ډول په ترتیب سره وکورئ.

## مجاز

مجاز په لغت کې واجازه ورکړه شوی ته وایي او د دلاوري او تجاوز کولو په معنیٰ هم راغلی دی. دبیان د پوهانو په اصطلاح کې یو لغت د خپلې اصلي او حقیقي معنا څخه تجاوز وکړي او دیوې غیر وضعي معنا له پاره راوړه شي مجاز بلل کېږي. مثلاً که موږ زلمي ته خطاب وکړو چې زمریه دلته راشه! په دې جمله کې (زمری) داسې کلمه ده چې اصلاً د زمري له پاره چې په زړورتوب کې شهرت لري وضع شوی ده نه د زلمي له پاره. نو دا چې موږ دا کلمه د زلمي د پاره راوړه و مجاز باله شي.

هر کله چې موږ کوم لفظ د مجازي معنا لپاره راوړو نو باید د حقیقي او مجازي م

ترمنځ هرومروکومه علاقه اونسبت موجود وي ، که نه وي نود هغه لفظ استعمال په مجازي معنیٰ سره غلط دی ، ځکه چې زمري او زلمي يوله بله سره د زړورتيا نسبت لري او دا دوی يو مشترک وصف دی نو د چې له الله مونږ د خ وزلمي ته دزمري خطاب وکی . اوکه سړي مثلاً وګل ته دزمري يا وزلفو ته دلمر خطاب وکړي ځکه چې د دوی په منځ کې کومه علاقه او نسبت وجود نلري نودلته مجاز غلط دی.

مجاز پر دوه ډوله وېشل کېږي . يو ډول مستعار او بل ډول مرسل مجاز بولي که چېرې د حقيقي او مجازي معنا په منځ کې د تشبيه علاقه موجوده وي مستعار مجاز يا استعاره ورته وايي لکه سترګو ته چې نرګس يا باڼوګانو ته چې جنجر وويل شي اوکه ددوی په منځ کې د تشبيه علاقه نه وي او د سببيب - مسببيب - ظرفيت مظروفيت يا داسې نورې علاقې موجودې وي نو مرسل مجاز بلل کېږي .

# استعاره

استعاره په لغت کې ورعايت غوښتلو او په اصطلاح کې د غير حقيقي معنا له پاره د کوم لفظ استعمالولو ته وايي . په دې شرط چې د حقيقي او مجازي معنا ترمنځ د تشبيه علاقه موجوده وي .

## د تشبيه او استعارې توپير

دالاندې بيتونه په غور سره وګورئ :

دپرکار په دود پر سر باندې څرخېږم
داآشنا له هجره هسې سرګردان شوم

ديار خيال چې راولي د زړه تر کوره
په قدم کې يې کوهر له سترګو توی کړه

په لومړي بيت کې شاعر خپل ځان له پرکار سره تشبيه کړی دی . نو ځکه شاعر

مشبه او پرکار مشبه به دی. سرگردانی چې دشاعر او پرکار په منځ کې یو مشترک وصف دی وجه شبه بلل کېږي. د (دود) کلمه چې دهغې په واسطه تشبیه راغلی ده د تشبیه توري (ادات) بالہ‌شي، په دوهم بیت کې گوهر د اوښکو لپاره استعاره شوی دی. یعنې شاعر دخپل بیت په دوهمه مصرع کې (گوهر) ذکر کړی دی مطلب یې اوښکې دي. په دې ځای کې (گوهر) مستعارمنهُ او (اوښکې) چې په نوموړي بیت کې یې ذکر نه دی راغلی مستعار لهُ بلل کېږي.

www.libtool.com.cn

دگوهر او اوښکو ترمنځ ارزش اوښکلا یو مشترک وصف دی. یعنې هغه قیمت اوښکلا چې گوهر یې لري. دمین هغه اوښکې چې دیار په قدمونو کې یې توېږي هم یې لري. دغه مشترک وصف چې په تشبیه کې وجه شبه بلل کېده په استعاره کې وجه جامع بلل کېږي.

شاعر په دوهمه مصرع کې وایي چې (گوهر له سترگو توی کړه) په دې ځای کې (دسترگو څخه تویول) یوه قرینه ده چې د دغې قرینې له مخې دگوهر څخه اوښکې مراد یږي ځکه چې که دا قرینه نه وای ذکر شوی نو گوهر پرخپلې حقیقي معنا (جواهرو) باندې دلالت کاوه نه پر اوښکو باندې.

اوس نو باید وویل شي چې د تشبیه او استعارې توپیر په دې لاندینیو موارد سره کېږي:

۱- په تشبیه کې مشبه او مشبه به دواړه باید ذکر شي او په استعاره کې یوازې مستعارمنهُ (مشبه به) ذکر کېږي. او که مستعار لهُ (مشبه) راوړه شي نو د مستعارمنهُ دلوازمو څخه هم یو شی باید راوړه شي.

۲- په تشبیه کې مشبه او مشبه به په منځ کې مشترک وصف ته وجه وایي او په استعاره کې یې وجه جامع بولي. په تشبیه کې کله کله وجه شبه او ادات راوړه کېږي مگر په استعاره کې وجه جامع راوړه کېږي او ادات بېخي وجود نلري.

۳- په تشبیه کې د قرینې ورا وړلو ته ضرورت نشته او په استعاره کې قرینه باید هرومرو راوړه شي.

www.libtool.com.cn

استعاره ډېر قسمونه لري. یو څو ډولونه یې په لاندې توګه دلته بیانوو،

## مصرحه استعاره

مصرحه استعاره وهغې استعارې ته وایي چې مستعارلهٔ حذفېږي او یوازې مستعارمِنهٔ راوړه شي. دا ډول استعاره په پښتوکې خورا ډېره راځي .
خوشحال خان ختک وایي:

دنورچا په ماڅه کار دی زه پرې خوښ یم
که مې دل ودین همه واړه بتان وړي

په پورتنی بیت کې (بتان) مستعارمِنهٔ دی او (ښکلي) مستعارلهٔ دی چې دلته ندی ذکرشوی. کاظم خان شیدا وایي:

خپلې توري دې په چا دي نن سرې کړې
چې لیده شي بیا په سروو ینوسرې کړې

له (تورو) څخه مقصد سترګې دي نوځکه (توري) مستعارمنه او سترګې مستعارلهٔ دی چې نه دی ذکرشوي په دې لاندې بیتونوکې هم مستعارلهٔ حذف شویدی او یوازې مستعارمِنهٔ ذکرشویدی.

دپسرلي ښکلونکي بیځ کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونوکې لالونه

څوېې وینې دخپل ځان خون بها نه شي
دګلرخ په تېره تیغ به آشنا نه شي

دریده مې کریبان سترګې خونباري
په ماوکړې خپل آفتاب د سحرچارې

د ریډیو او تیلویژن د مستندې ژبې په ذریعه خواره واره خیالات یې
ذهن داسې واخلي چې په علم او پوهه کې یې زیاتوالی راشي.

www.libtool.com.cn

# دماشوم د ژبې د زده کړې لومړی لاره چاره

www.libtool.com.cn

د روحیاتو او د ژبې استادان ټول دا نظرو لري او په دې متفق دي.
کوم وخت کې چې په لومړي سر کې ماشوم ښوونځي ته راځي ښوونکی
په ډېره نرمه لهجه سره د هغې د کور او چاپېریال په باره کې
ساده او اسانه پوښتنې وکړي ترڅو چې په خبرو کې یې ربط او
پوخوالی پیدا شي او د بلې خوا یې د جرأت قوه هم قوي شي او همدارنګه
ورپسې به تر څلورو یا پنځو هفتو (څه کم او زیات یې میاشتې) پورې
د ماشومانو د ذوق او احساساتو په مطابق لنډې، ساده او په زړه پورې
او غوره قصې د ماشومانو د احساساتو او جذباتو سره د (مجسم شیانو)
وار په وار بیان کړي او هم به د دې قصو په هکله لنډې لنډې پوښتنې
په پراخه تنده د ماشومانو څخه کوي یعنې د دې پورته عمل اعاده به
کوي ترڅو چې د ماشومانو د درک، تخیل، حفظ، تولید قواوې رابرسېره
شي او تربیت ومومي او لا پسې انکشاف پیدا کړي او څرنګه چې د روحیاتو
او د ژبې د استادانو تر نظر او د نوي تدریسي اصول له مخې دا سې
څرګندېږي چې د ماشوم د زده کړې له پاره دا لاندینی د ژبې د زده کړې
اصول په نظر کې ونیول شي.

**دژبې د زده کړې اساسي مهارتونه او اصول:** (اوريدل، خبرې کول، لوستل، ليکل) او په دې ټولو پوهېدل په منظم او تدريجي ډول سره د ښوونکي له پاره ضروري دي چې په پوره اساسي اصول د ژبې د زده کړې په ساحه کې ماشومانو ته کار او تدريس وکړي.

www.libtool.com.cn

۲- ښوونکی ته په کار دي چې د ژبې د زده کړې په مرحله کې د توري د مختلفو آوازونو او د هغې ترفرق او هم يې د تورو د حرکاتو د آوازونو څخه شاګردان په تمامه ساحه کې په عملي ډول پوه کړي لکه په لاندې شکلونو کې دا ډول اول اصلي شکل لکه [ا - ب] دوهم د حرکاتو شکل يې لکه [اَ اِ اُ] او [بَ - بِ - بُ] يا په دا ډول [ اَ - اِي - او] او [با - بي - بو] او داسې نور.

۳- د ماشوم د ژبې د زده کړې په ساحه کې د ساده مجسمو او - محسوسو شيانو او د هر شي د مشابه الفاظو تصويرونه، هډلونه ضرور دي چې ښوونکی يې د تدريس په وخت کې ماشوم ته وښيي او ماشوم ته په دې هکله زياته او پوره برخه ورکړي چې ماشوم څخپله د تصويرونو او د هغې د الفاظو او مشابه الفاظو او رنګونو تشريح وکړي او په تدريج سره بيا ورډيې د - تفصيل لرونکو او اوږدو تصويرونو. مډلونو د نومو د تعريف او کيفيت د بيان ماشوم ته زياته ونډه ورکړي ترڅو چې ماشوم ته د لوست - تخيل، حفظ او توليد د قدرت سنه زمينه په برخه شي او د الفاظو ذخيره يې انکشاف ومومي او همدارنګه د هر لفظ او د هغې مشابه الفاظ په کافي او زياته اندازه وپېژني او هم پرې پوه شي.

**۳- خبرې کول او صحيح تلفظ:** صحيح تلفظ نه مراد دا دی چې د يو لفظ حرفونه

دې دخپل حرکت په طرز او حال کې ولاړ کړې شي او دیو حرف یا توري دپاره چې څومره لنډه یا اوږده حرکت په کار وي هومره حرکت دې ورکړې شي لکه یو لفظ به واخلو (ډولکی) دغه لفظ کې زیات زور (ډ) او (کُ) دی او زیات حرکت د (ډ) او (ی) دی که موږ د زور او حرکتونو په لحاظ غلط ویش وکړو نو دې لفظ دغلط تلفظ څخه به مختلفې نمونې په دې ډول وې. ډولَکی یا ډولـَکی. یا ډَولَ لکی. یا ډولک ای. یا ډو- لک ای یا ډَو لکی یا ډَوِله کی او نور

www.libtool.com.cn

# تصویرونه، چارټونه، ماډلونه

www.libtool.com.cn

د روحیاتو پوهان په دې پوره باب یوه رأی دي چې ماشومان تصویرونه نقشونو او داسې نورو سره زیاته مینه پکار ده چې سبق سره سره د ماشومانو دا فطري مینه هم ماته شي یواځې په درسي کتابونو کې صرف د تورو، ټکو او الفاظو په کار اخستل نه دي لازم ځکه چې ماشومانو ته په سپین کاغذ دا قطار په قطار توري او ټکي، جملې د تورو کارغانو د سېلونو ځغلې هم کم ښکاري صرف تور تور ټکي او الفاظ د ماشومانو زړونه وټکوي او د هغوی لومړی د سبق نه بیا د کتاب نه بیزارو، رو د ټولګی نه حتی چې د ښوونځی نه او د استاد نه یې هم زړه وټکېږي لازم دي چې د ماشومانو په درسي او غیر درسي ټولو کتابونو کې ځای په ځای د ډېر ښایسته، رنګین تصویرونه وي او دا ځکه چې د تشو الفاظو په زده کړه کې یواځې د پوهې او فکر ذهني قواوې پکاریږي مګر که چېرې د غه الفاظو سره تصویرونه هم ملګری شي نو دلته د ماشوم د تصور ملکه هم په زده کړه کې د پوره ته شیانو د لیدلو سره بې نتیجې نه پاتې کېږي ځکه چې د ماشوم په ټولو ذهني قوتونو کې زیات قوت د غه د تصور قوت دی او چې دا سیراب نه شي نو په دې وجه زده کړه کې نیمګړتیا پیدا کېږي. استاد ته دې دا معلومه وي چې د فکر، پوهې او تصور ترون ډېر اهمیت لري ځکه چې


اصلي زده کړه د دي د ري وار و قوتونو د ګډون له کبله کېداى شي. او س هم بيا ضرورده چې فکر او پوهه دې ښکلى وي او بيا دا هم چې د دوى د ريم ملکرى تصور دى هم ښکلا لري ليکن تصور د شي او تصوير دليد او ګتو تابع دى چې څومره شى او تصوير ښکلي او رنګين وي او په خطونو، نقطو پوره او متناسب وي هومره د دغه شي او تصوير ذهني نقش يعنى تصور هم ښکلى راځي نو په کار ده چې د ماشومانو په درسي موادو کې دې ځاى په ځاى رنګا رنګ ښکلي او دل آويز او بې عيبه، بې نقصا نه تصويرونه جوړ وي.

هر کله چې د ماشوم تصور د ښکلو تصويرونو له کبله د ښکلا جامې واغوندي نو بيا دا خبره امکان لري چې د داسې ماشوم تخيل هر و مرو د ښکلا انعښتي وي او هر کله چې د انسان تصور او تخيل دواړه د ښکلا په رنګ کې رنګ شي نو بيا د داسي انسان هر ذهنى تخليق د ښکلا نماينده کي کري او کوم ذهني تخليق چې د ښکلا اظهار په ښکلي انداز کې وکړي نو بيا معمولي تخليق نه شي شمېرېدلى هغه بيا شاهکار شي او شاهکار بيا تخليق کول د ډېر عالي او لوړ فنکار کار دى. د دغې نه برسېره سيل کول په لرى او نژدې غرني او ميداني علاقو کې ګرځېدل ، د دريابونو، ډنډونو، ځنګلونو سيل او داسې نور، دا ټول داسې توکي دي چې د تصور پانګه پرې ډېره زياته ډېرېږي او دې سره سره د ماشومانو په معلوماتو او تجربو کې هم ډېر زياتوالى منځ ته راځي. همدا رنګه د پوهې ارزه کړي په لړ کې د لوړې سطحې شاګردانو له پاره د ډکشنرۍ ، قاموس نه فايده اخستل او دا په صحيح ډول استعمالول هم ضروري خبره ده چې ديو لفظ د معنىٰ لټون وکړي او بېخپله پرې ځان پوه کړي.

۴- د ليک او ليکلو مهارت :- همدا رنګه ښوونکي بايد ماشوم ته د

لیکڼ د زده کړي په هکله آزادانه اختیار ورکړي چې د مشق او تمرین په ډول د کرښو لیکڼې د ښی خوا او کیڼې خوا ته وکړي لکه د عمود څخه ښکته خواته او د ښکته خوا څخه پورته خوا ته او په افقي ډول خط سره د ښي خوا څخه چپ طرف ته او د چپ طرف خوا څخه ښي طرف ته او همدارنګه دایروي د ښي طرف څخه چپ طرف ته او د چپ طرف څخه ښي طرف ته اوهمدارنګه نیم دایروي کرښې د ښي طرف څخه چپ طرف ته او د چپ طرف څخه ښی طرف ته او په عین ډول رباعي دایره د ښي طرف نه چپ طرف ته اوهمدارنګه مایلې کرښې د پورته طرف څخه ښکته طرف ته او د ښکته طرف څخه پورته طرف ته ولیکي او پدې سیستم کې ښوونکی ډیره توجه وکړي او دا پورته عمل دې پرې مشق او تمرین کړي دغه پورته عملیې په لاندېنی ترتیب شکلونه لیکو؛

www.libtool.com.cn



ترڅوچې ماشوم ته د رهجا د تورو او د دې تورو مخصوص ارتباطي او ترکیبي صورتونو او حالتونو او علامو، د لیکلو د پاره د ماشوم ګوتې مساعدې شي او په اسانه ډول آینده کې د لیک په زده کړه کې مهارت

حاصل کړي او وروسته د دې عمل څخه ښوونکی باید د درست او -
اصلي ليک د اساس له پاره د ښې لاس د شهادت په ګوته په هوا کې د حقيقي
تورو ليکلو ترتيب د مثال په ډول د خو تورو کرښې کش او راکاږي
او عملاً دې ښوونکي د ماشوم د درېو ګوتو کې (قلم) ونيسي او په تخته
باندې د (ا- ب) توري وليکي. او په اصولي ډول دې د درسي پلان د مخې
د غه عمل په تدريج سره وړاندې بوځي او دا ليک ښوونه دې د تصويري
او محسوسو شيانو د الفاظو له مخې وکړي او ښوونکی دې زيار وباسي چې د هر
لفظ د پاره مجسم مشابه الفاظ په پوره توګه زده کړو ته زمينه او موقع په لاس
ورکړي چې پخپله ماشومان د هر لفظ د پاره د هغې مشابه الفاظ د تصويرونو او د
محسوسو شيانو له مخې وپېژني او د ترکيب د مرکباتو د قانون له مخې هم د ژبې
د زده کړې له حيثه او هم د ليک د مخې په پوره توګه د الفاظو ذخيره ماشومانو
ته زياته حاصله شي ترڅو چې زده کړو ته د ژبې د زده کړې پوره قدرت
پيدا شي او د بلې خوا په د ابتکار او توليد قواوې انکشاف پيدا کړي.

او همدارنګه ښوونکي ته په کار دي چې د پورته اساسي او بنيادي مهارتونو
او اصولو له مخې قدم په قدم تګ کې د شاګردانو د ژبې د زده کړې د پاره تل هڅه
وکړي او پدې هکله دې زده کړو ته ډېره زياته برخه ورکړي چې
شاګردانو د پوهې په ټوله ساحه کې په معياري ډول د ژبې سطحه لوړه شي.
دا يوازې شرط نده چې زده کړې دې ښې ښې جملې او فقرې وليکي بلکه هغوی
ته ضروري دي چې اوچت خيالات هم په خپل ليک کې داسې ونغاړي چې
هم خپله ترې خوند واخلي او هم ترې اورېدونکي او لېدونکي خوند واخلي.
بله دا خبره د لوړې سرڅخه ضروره چې د تورو ترکيب دې ښوونکی
د دوه توريزو او درې توريزو الفاظو ترکيب او د دې تورو ترکيب د مشابه

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

# د پښتو ژبې تاریخ

**ژبه**: دانسان او حیوان ترمنځه بېلتون یوازې دا دی چې انسان یو تربله خپل خیالات او جذبات رسوي لیکن حیوان کې دا صفت نشته. د یو ذهن او قلب، فکر او احساسات بل ته منتقل کول په حقیقت کې د انسان د ټولو نه غټه د تخلیق مهمه معجزه ده. د آدم علیه السلام د پیدا یښت نه نیولې تر دې وخته د هغه اولاد دومره عظیم الشانه کارنامې ترسره کړیدي چې د دغې نه د ده د تخلیق هغه لوړ حکمت او پټ راز روښانه څرګندېږي د دې ټول معجزانه ارتقا یوازې یوه مهمه واسطه د انسان د نطق یا خبرې کولو ملکه ده او ځکه د منطق علم پوهانو د انسان تعریف «ناطق حیوان» په اصطلاح کړیدی د نطق دا ملکه لکه چې مخکې عرض شویدی یوه ژوندۍ او حاضره معجزه ده او همدغه قوت او قدرت دی چې انسان یې د ټولو مخلوقاتو نه ممتاز ګرزولی دی. او د کایناتو خالق په ځکه د ده د نیابت د ذمه وارۍ اچولو او ده د دغه ذمه وارۍ په ځان منلو او وړلو په نتیجه کې الله تعالیٰ مخکې او آسمانونه ټول ده ته سلامي کړل او د کایناتو تسخیر هر څه چې دي ټول د ده تابع کړل او ده په خدمت کولو یې مامور کړیدي. یوه دوه کوټې ټوټه د غوښې چې د خولې د مشین په

الفاظو او د محسوسو الفاظو ترکیب او ترتیب د علامو او رکابونو سره وښيي اوبیا د هر توري د استعمال موقعیت په لومړي سر کې اوبیا په منځ کې او په آخر کې د لیکلو اصول او طرز ماشومانو ته وښیي او ښوونکی ته په دې هکله ردتوروډ ترکیب او پیوندونو او رکابونو) عمل ته ډېره توجه په کار ده چې په مکرر ډول سره ماشومانو ته په دې مرحله کې ډېره زیاته برخه ورکړي ډېرمشق او تمرین دې پرې وکړي او ښوونکی دې د دې عمل اعاده د ماشومانو څخه په منظم ډول سره ترسره کړي ترڅو چې ماشومانو ته د لیک د پوهې پوره قدرت حاصل شي د مثال په ډول په دې لاندې جدول کې دا پورته اصول په عملي ډول مونږ ترسره کوو

www.libtool.com.cn

| دتوروا صلي شکل | په اول کې | مثال | په منځ کې | مثال | په آخر کې | مثال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ا | اس | ا | مال | با با | ٠ |
| ب | بـ | با با | ـبـ | تبر | ب | مکتب |
| پ | پـ | پښه | ـپـ | څپلی | پ | چپ |
| ت | تـ | تله | ـتـ | متل | ت | عزت |
| ټ | ټـ | ټال | ـټـ | کټکی | ټ | کټ |
| ث | ثـ | ثمر | ـثـ | کثرت | ث | مثلث |
| ج | جـ | جارو | ـجـ | مسجد | ج | حج |

www.libtool.com.cn

| دتوروا اصلي شکل | په اول کې | مثال | په منځ کې | مثال | په آخر کې | مثال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| چ | چـ | چرګه | ـچـ | مچې | چ | مرچ |
| ح | حـ | حلوايي | ـحـ | محمدؐ | ح | صالح |
| خ | خـ | خر | ـخـ | مخونه | خ | مخ |
| ځ | ځـ | ځاله | ـځـ | مځکه | ځ | ګهيځ |
| څ | څـ | څپلۍ | ـڅـ | لمڅې | څ | لوڅ |
| د | د | ديګ | د | ادي | د | احمد |
| ډ | ډ | ډول | ډ | کنډل | ډ | لنډ |
| ذ | ذ | ذخيره | ذ | نذير | ذ | لذيذ |
| ر | ر | رسۍ | ر | مرګ | ر | کور |
| ړ | ړ | ړوند | ړ | وړل | ړ | ککړ |
| ز | ز | زانګو | ز | غزا | ز | ميز |
| ژ | ژ | ژبه | ژ | خېژي | ژ | ۰ |
| ږ | ږ | ږيره | ږ | مېږی | ږ | اېږ |

www.libtool.com.cn

| دتورو اصلي شكل | په اول كي | مثال | په منځ كي | مثال | په آخر كي | مثال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| س | سـ | سپی | ـسـ | اسلام | س | لس |
| ش | شـ | شمع | ـشـ | مشر | ش | كش |
| ښ | ښـ | ښځه | ـښـ | ميښه | ښ | اوښ |
| ص | صـ | صندوق | ـصـ | تصور | ص | حريص |
| ض | ضـ | ضعيف | ـضـ | مريضي | ض | مريض |
| ط | ط | طوطي | ـط | غلطي | ط | بسيط |
| ظ | ظ | ظروف | ـظ | مظلوم | ظ | غليظ |
| ع | عـ | عينك | ـعـ | معلم | ع | شروع |
| غ | غـ | غوا | ـغـ | مرغۍ | غ | ناروغ |
| ف | فـ | فيل | ـفـ | مفيده | ف | شريف |
| ق | قـ | قلم | ـقـ | فقير | ق | فاروق |
| ك | كـ | كتب | ـكـ | مكتب | ك | ملك |
| ګ | ګـ | ګل | ـګـ | ملګري | ګ | بزرګ |

www.libtool.com.cn

| دتورو اصلي شکل | په اول کي | مثال | په منځ کي | مثال | په آخر کي | مثال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ل | لـ | لاس | ـلـ | پلن | ل | کتل |
| م | مـ | مچ | ـمـ | لمن | م | اخلم |
| ن | نـ | نغری | ـنـ | منی | ن | پرون |
| ڼ | ڼـ | داتوری دلفظ په سرکي نه استعمالېږي | ـڼـ | منه | ڼ | بڼ |
| و | و | ونه | ـو | تور | و | پښتو |
| ه | هـ | هګی | ـهـ | مهر | ه | واښه |
| ه | ه | داتوری دلفظ په سرکی نه استعمالېږي | ٠ | ٠ | ه | شاه |
| ء | ء | داتوری دلفظ په سر کي نه استعمالېږي | ٠ | ٠ | ء | |
| ی | یـ | یوم | ـیـ | خیر | ی | مستي |

ش

شمع




ښ

ښځه



ص


صندُوق



www.libtool.com.cn

ض

ضعیف




ط

طُوطی




ظ

ظرُوف




ع

عینک



غ

غوا




ف

فقیر




ق

قلم



ک

کټ



ګ

ګُل




ل

لاس



م

مار



ن

نال



و

وُنه




ه












هګۍ



ی

یوې



| | | |
|---|---|---|
| ا  اس | ب  بابا | پ  پیشو |
| ت  تله | ټ  ټال | ث  ثمر |
| ج  جارُو | چ  چرګه | ح  حلوائی |
| خ  خر | څ  څپلی | ځ  ځنګل |
| د  دېګ | ډ  ډول | ذ  ذخیره |
| ر  رسی | ړ  ړُوند | ز  زانګو |
| ژ  ژبه | ږ  ږمنځ | س  سترګه |

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د لومړي زده کړې منشاء او مقاصد

## دلومړي زده کړې مدعا :

۱- دزده کړې ورکولو استادانو او د تعليم او روحياتو دماهرانو په دې هکله داخيال دى چې د لومړي زده کړې دتدريس په ټولو کې غټ مقصد دا دى چې په ماشومانو کې پخپله د سوچ او پوهې مـاده پيدا شي او د ژور فکر قوه يې انکشاف وکړي او د دې انکشاف له مخې دوى د څه څيز يا واقعې په هکله د خپلو خيالاتو په آسـانه دول ژبه کې د تورو، الفاظو، فقرو او جملو په واسطه هم په وينا او هم په ليک کې څرګندونه وکـړي ترڅو چې د ماشومانو ذهني قوه رابرسېره شي او دغه قوه يې د فکر او تخيل واکې په لاس راولي .

۲- د روحياتو ماهرين وايي چې هرماشوم دې دنيا ته هم بدني او هم په ذهـني لحاظ بربنډ او لغړ راځي او لکه څنګه چې د دغه ماشوم بدن ته خپل کور او ولس جامې وروا غوندي په همدغه دول د دغه ماشوم ذهن ته هم د دغه ولس د مخصوصې ژبې عادتونو- عقيدو او نظرياتو جامې وروا غوستى شي د دې مطلب دادى چې د هرماشوم ذهن د ولسي زده کړې تابع وي او په خپل چاپېريال کې چې دى څه ويني او کوري هرومرو به پرې د هغې اثر کېږي همدغسې حال يې د ژبې

هم دی هغه ژبه ډېر زده کړي چې د مور په غېږ په خپل کور، چم کاونډ
www.libtool.com.cn
چاپېريال او ولس ترمنځ ئې اوري خو غرض دا دی چې د ولسي ژبې
صرف او ربدل نقصاني وي ځکه چې د وينا ژبه ځيني ځيني وخت بې لارې
او بې کوده هم ورکډېږي او بې واکې روانه وي نو ضرور دي چې د ماشوم
د دغه وخت لومړنی زده کړه دې بې واکه نه وي دا واکې څه دي دا د لومړيو
لارو دا اصولو په رڼا کې په صحيح ډول د ژبې زده کړه کول دي.

۳- د يوې ژبې په صحيح ډول د زده کړې يوا ځې دا مطلب نه دی چې په
ښو جملو کې دې او چت خيالات دا سې خپل کړي چې دا برخه د هغه د شکلي
او زړه پورې عمل نه ښکاري شي يعنې هغه دې دا سې يو شخص شي چې د
خپلو عالي نظريا تو او نيک عمل باندې هم خپل کور نيک بخت شي او هم د
خپل ولس او هېواد له پاره د پاک خدمت مصدر وګرځي. نو ويلي شو چې د
پښتو ژبې سره د خدای (ج) فضل دی دومره څه شته (شعري او نثري)
پانګه چې د زده کړو د لوی او ورو ټولو پرې ذهني ساحه روښانه شي چې
د دې خپلې ژبې د زده کړې او پوهې په طاقت او قدرت د ټولې پوهې
حاصلولو کې په معياري اصول د پوهې لوړو مدارجو ته ورسېږي.

www.libtool.com.cn

# د پښتو ژبې د زده کړې مقاصد

الف: لومړۍ خبره دا ده چې ماشومانو کې دې په صحیح ډول د یوې خبرې د اورېدو او په دې خبره د پوهېدو اهلیت پیدا شي.

ب: دوهمه خبره دا ده چې ماشومان دې د دې د پاره ظرفیت پیدا کړي چې هغوی د خپلې ذهني سطحې مطابق په صحیح ډول یوه خبره بیان کړي.

ج: درېیمه خبره دا ده چې هغوی دې یو لیک په ښه طریقه ولوستی شي.

د: څلورمه خبره دا چې په هغوی کې دې اهلیت پیدا کړی شي چې د څه څیز یا واقعې په هکله څه خبره دې په صحیح او ښکلي لیک کې راولي د دې څخه برسېره دا هم ضروري ده چې ماشومان دې عامه وینا هم په صحیح ډول کړي او د خپلو احساساتو په رڼا کې هغوی چې څه گوري یا څه وینې هغه شیان په داسې ژبه کې بیان کړي چې هم ترې خپله خوند واخلي او هم ترې اورېدونکي متأثره کړي. لازمه ده چې په ماشومانو کې د عامې مطالعې شوق هم پیدا شي او د دې سره سره دې د هغوی تخلیقي او ابتکاري قوتونه را برسېره شي چې د هغوی په وینا - لیک - تبلیغ کې یو ډول انفرادیت او جدت پیدا شوی وي.

www.libtool.com.cn

# دژبې زده کړې بنيادي اصول

د تعليم ماهرانو د ماشومانو د زده کړې او پوهې د پاره څو اساسي اصول د روحياتو د علم په رڼا کې ډېر د اهميت وړ دي هېڅ يو ځواړي کښ استاد په غير د دې اصولو د رڼا څخه ماشومانو ته د لوست ـ ليک په ساحه کې صحيح درس نه شي ورکولای په کار ده چې په دې اصولو کې په هر يو بحث وشي.

## وينا ـ لوست ـ ليک

دژبې ښوونکي ته په کار ده چې ماشومانو ته دې دژبې د وينا سره سره د لوستلو تربيت ورکړي او چې په لوستلو کې يې تربيت وشونو د دې عمل نه وروسته دې ورته د ليکلو چارې وښيي ځکه چې د لوست او ليک ترمنځ رابطه دژبې د پوهې په سطحه کې ضروري او حتمي خبره ده . ټولو کې لومړی د اکار په غور ښوونکی ته فکر ضرور دی چې د وينا په ذريعه دې ماشوم ته دا تربيت ورکړي چې هغه دې د تورو د مخرجونو او الفاظو د آوازونو او د اداکولو طرز څخه واقف شي او ور سره متصلاً دې د ـ لوستلو صحيح لارې وښيي او هر کله چې ماشوم په لوستلو کې پوخ شو وروسته د دې څخه دې د ليکلو لارې چارې وښيي.

دې خالي ځای کې خوزي راخوزي چې د نن سبا په اصطلاح کې ورته د
«صوت آله» یا مایکروفون ویل موزون ښکاري او هر ساه چې د ده د سینې څخه
په دې لاره راوځي داوړو غوندې توته یې اړوي رااړوي او داسې آوازونه ترې
جوړشي چې هغه د لفظونو شکل واخلي او چې د خولې نه بهر شي نو د ده همجنس وروڼو
عزیز سمدستي پوه شي چې دی څه وايي، یا څه غواړي . هیڅوک دا نه شي ویلای چې
انسان کله راهیسې د دې آلې څخه کار شروع کړیدی ځکه چې د حضرت آدم
علیه السلام د لومړي ځل ذمه واري ابتداء شویده نو معلومیږي چې
انسان د دې آلې په استعمال لا د پخوا څخه بنه لرونکی او قوي او داهم
معلومیږي چې ده د الفاظو د ساتنې یعنې یاد لرلو ډیره قوي ملکه
هم لرله. او تر زمانو زمانو انسان هر څه چې ویل په خپل ذهن کې
به یې محفوظ ساتل. مګر کله چې د انسان شمیر زیاتیده او معاشره یې
خوریده او ورو ورو دا ضرورت ورته پیښ شو چې په خوله څه وايي دا په
داسې شکل کې محفوظ کړي چې د یو نسل څخه بل ته او د بل نه بل ته پاتې
شي همدغه رنګ د لیک ابتداء ده او په دې کې انسان د تیرې توبتي د ونو پاڼو
پوستکو او څرمنو په ذریعه په خاصو نقشونو او شکلونو کې خبرې خزانه یا ذخیره
کول او راتلونکي نسل ته پریښودل د دغې منزل یو ډیر مهم پړاو وو. او ورو
ورو چې زرګونه کاله وروسته د انسان اولسي ژوند کې بدلون راته نو انسان
بیا د خپل ژوند او اولسي روایاتو د دایمي بقاله پاره مختلف ډول کرښې او شکلونه -
(حروف) یاتوري وضع کړل چې په ننني اصطلاح کې ورته خط یا لیک ویلی شي.

د دې څخه دا واضح تحقیق کیدای شي چې انسان د تهذیب تعلیم
او ترقی اساس او بنسټ هم د ده د نطق یا خبرو کولو ملکه یعنې ژبه ده ځکه نو
الله تعالی انسان ته د ټولو څخه اول د تعلیم د علم او پوهې زده کړه ورکړې ده او چې څه

www.libtool.com.cn

# لېږدل دمعلوم نه نامعلوم ته

www.libtool.com.cn

د دې ځنګې پوړته موضوع مدعا داده چې د ماشوم لومړې زده کړې ابتدا د الفاظو څخه پیل شي او دالفظونه په لومړي سرکې د هغه څېزونو، تصویرونو سره تړون ولري چې ماشوم په خپل کوراو چاپېریال کې د لومړي سروخت څخه زده کړي وي او په معنیٰ او مفهوم يې ځان رسولی وي.

نو بیا که په سبق کې داسې يو نوي لفظ راشي چې ماشوم يې په معنیٰ اومفهوم نه رسيږي او، نه هغه په خپل کوراو چاپېریال کې اورېدلی وي نو ښوونکی ته په کار ده چې د دغه نوي لفظ تړون او ارتباط د نوروداسې الفاظو سره وکړي کوم سره چې ماشوم د اول وخت څخه بلد او اشنا وي یعنې دا نوی لفظ د اشنا لفظ سره داسې پیوند کړي چې د دغه اشنا لفظ سره د مفهوم په رڼا کې ماشوم د دغه نوی لفظ په معنیٰ په خپله پوه شي نو په دې وجه د زده کړې دا اصول د معلوم نه نامعلوم ته لېږدل ګڼل کېږي.

# لېږدل د اسان څخه ګران ته

د دغه پوړته خبرې مفهوم دا دی چې د لوستلو زده کړه کې دې لومړی هغه الفاظ ښوونکی استعمال کړي د کومو په معنیٰ چې ماشوم پوهېږي اود تلفظ او اواز سره يې بلد او اشنا وي داسې الفاظ چې ماشوم يې هم په معنیٰ پوهېږي اوهم يې په اسانه ولاړ ولای شي راداکولای شي،

دغې ته اسان) وايي او هغه الفاظ چې نه يې ماشوم په اسانه ادا کولای شي او نه يې په پوره يا نيمګړي مفهوم پوهېږي دغې ته ګران) وايي د لوستلو او د مفهوم په رسيدو لوړ اصول دا دي چې لومړی دې ښوونکی اسان الفاظ ماشوم ته ولولي او بيا دې داسانه لفظونو په رڼا کې ګران الفاظ داسې خپل کړي شي چې د دغه ګرانو الفاظو په لوست او پوهه کې اسانتيا پيدا شي .

بله ضروري خبره دا ده چې ښوونکی دې د الفاظو ذخيره له پسې زياته کړي لکه د زنځير د کړيو په څېر ترڅو چې د ماشوم په علمي او د پوهې په سطحه کې غوره انکشاف پيدا شي .

## لېږدل د ډاګېزنه مخفي ته

دزده کړې په اصولو کې دا اصول ډېر اهميت لري د دې نه مطلب دا دی چې ماشومانو ته دې ښوونکی لومړی د هغو څيزونو او د هغو الفاظو زده کړه وکړي کوم هغه څه چې د هغوی د علم او پوهې په لړ کې په ډاګه پراته وي يعنې داسې څيزونه او داسې الفاظ چې د پنځو حواسو په واسطه يې ماشومان تلفظ او ادا کړي او هم په دې وپوهېدلای شي لکه د مثال په ډول (موټر) د ماشوم له پاره يو ډاګېز لفظ دی ليکن په دې شرط چې ماشوم کتلی او ليدلی وي او يا يې په کې سورلی کړي وي خو د (حادثې) لفظ د هغه ماشوم له پاره پټ او مخفي حيثيت لري . چا چې کوم ډول حادثه په ژوند کې نه ده ليدلې نو او س که استاد د غه ماشوم ته چې حادثه نه پېژني نو د حادثې لفظ معنی ښودل غواړي نو هغه به دغه ماشوم د ذهن څخه پټ لفظ (حادثه) د ډاګېز لفظ (موټر)

سره په داسې ترتيب و ترڅي چې د موږ په ذريعه هغه په (حادثه) هم پوه شي - ښوونکي ته په کار دي چې په لومړي ځل د مخفي او پټو الفاظو څخه ښځې د ده وکړي يوازې او يوازې دې د هغه شيانو نوموړه ماشوم ته وښيي چې په ښکاره يې ادراک کولای شي.

www.libtool.com.cn

## د مشابهت او تضاد اصول پکار ول

د روحياتو ماهرين او د تدريس لوی استادان دا وايي چې د تضاد او مشابهت په ذريعه ماشومان د مشکلو لفظونو په مفهوم ډېر ژر پوهېږي او هم پېژندنه کولای شي او په معنی يې رسېدلای شي. د تضاد په کارولو څخه مطلب دا دی چې د متضاد الفاظو په ذريعه زده کړه ورکړی شي. فرضاً د مثال په ډول د (تيارې) لفظ ته متضاد لفظ (رڼا) او همدا رنګه د (نرۍ چکي) له پاره (غټ غټ) او همغسې ډېر زيات مثالونه شته لکه د تور او سپين - لوی او وړوکی، اوږد او لنډ، د زده کړو د پوهې له پاره ښوونکي په ټولګي کې مستقيماً د زده کړو له مخې عملاً ښودلای او تطبيق کولای شي لکه دا ماشوم تور دی او دا بل سپين، دا ماشوم لوی دی او دا بل وړوکی، دا قلم اوږد دی او دا بل لنډ دی همدا رنګه په ډېرو کې د متضاد لفظ په کومک د وهم لفظ پېژندلای شي لکه چې مخکې وويل شو چې د متضادو لفظونو په ذريعه د نورو الفاظو په تدريس ډېره آسانتيا پيدا شي. او په عين حال کې د زده کړو د فکري توليد قواوې هم انکشاف ومومي او د تخيل او درک قواوې يې هم پيدا شي.

مطلب دا دی چې ښوونکی بايد هغه الفاظ زده کړو ته وښيي چې په دې صورت يې ډول يې هغه شی په خارج کې وجود ولري او ضد يې پيدا کړي لکه چې

دا د ماشومانو په ختهکې اخښلي دي چې هغوی د متضاد او مشابهه هغه الفاظو په ذریعه چې په پوهه کې راغلي دي د پښتو د جدیدو او مشکلو لفظونو پېژندنه کولای شي او په مفهوم او معنیٰ یې پوره پوهېدلای شي.

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د پښتو د زده کړې لارې چارې

**د پښتو ژبې انفرادیت:** اګر که د ګڼو ژبو لارو چارو سره د پښتو د زده کړې لارې چارې تر ډېر حده پورې سمون خوري. مګر بیا هم پښتو ژبه بېل ډول انفرادیت او ځانله بېل مقام لري نو دا ضروري ده چې د دې ژبې د زده کړې په لارو چارو کې هم د دغه انفرادیت رنګ ښکاره وي د نورو ژبو د لارو چارو سره د سمون خوړلو په وجه به مونږ هرومرو د دغه ژبو د زده کړې لارې چارې په ګوته کوو او د دې سره سره به مونږ هم تکل کوو چې یا خو داسې بېلې لارې چارې وټاکو چې د پښتو ژبې دغه انفرادیت پرې په ډاګه شي او یا به دغه نورو ژبو لارو چارو کې څه داسې ترمیم یا بدلون یا ګډون یا تنسیخ (پرېکون) وکړو چې د دوی په ذریعه مونږ د پښتو ژبې د زده کړې ورکولو په لړکې پاتې رانه شو. دا ثابته ده چې پښتو ژبه څه کم وزیات څلوېښت توري لري او په دې تورو کې څه د عربي په ډول دي او څه د پښتو خاص او ځانته توري دي د پښتو خاص توري مخصوص لیک هم لري او مخصوص اوازونه علاوه هم لري او دا توري چې کوم آوازونه لري دغه آوازونو وېستو له کبله ترڅه حده اردو، فارسي ژبې او تر ډېره حده عربي او انګرېزي ژبې پاتې راځي او دا ژبې هغه ژبې دي چې پښتو سره ګډون او تړون لري. مطلب دا شو چې د پښتو استاد به د پښتو د حروفو د تلفظ ادا او د اوازونو په لړکې به د نورو ژبو استادانو په نسبت زیات سر خوږي او کړاو کوي ځکه چې د پښتون قام کې خپلونه دي او د هري خپل د ژبې پېژندل دې وا استاد له یو مهم جز د ژبې د پوهې څخه ګڼل کېږي.

www.libtool.com.cn

# دژبې زده کړې زړه پورې لارې

**دماشوم فطري غوښتنې**؛ دژبې دزده کړې په لړکې داحقيقت ديوه ښه استاد نه هم پټ نه دی چې واړه ماشومان زده کړه ډېرژر او په اسانه هله کوي چې د هغوی د سبقونو دښودنې لاره زيات ه غوره او په زړه پورې اود لوبو په ډول وي داخبره هم دچا نه پټه او پنا نه ده چې ماشومان په لوبولوبوکې کوم سبق ولولي په هغې کې نه صرف دلچسپي اخلي بلکې دغه سبق سره تړلي خيالات ، توري ، الفاظ ، جملې او فقرې دهغوی د ذهن په تخته ښه په واضحه شکلونو ځان ځای کړي اودغه توکي په اسانه د هغوی ځخه نه هېرېږي زده کړه هم دغسې په کار ده چې زده کړې ځېژونه د ماشوم د ذهن يوه قصه وګرځي او هغه بيا د دغې زده کړې په رڼاکې نور ځيزونه ويني ، ګوري او په اسانه يې پېژني. بله دا چې په ماشوم کې د ځان ښودنې يعنی خود نمايۍ ډېر فطري عالي جذبې موجودې وي که دماشوم د دغه جذباتو ځخه کار واخستی شي او ماشوم ته داسې موقع ورکړی شي چې د هغه د دې فطري جذبو تنده ماته شي نوځه نه کېدونکې خبره نه ده چې دماشوم په ذهني بناکې په اوښتي ډول مونږ يوانقلاب راوړلو په کار داده چې دماشوم د دې روحياتي جذباتو يوه ځه لړ يا ډېر وضاحت وشي چې دا په ځه ډول دی او په دې لړکې مونږ ځه کولای شو. دځان ښودنې جذبه په هرچاکې

وی څوک هم دا نه وایي چې زه دې بدني طور په جامه په جوسه یا ذهني
طور سره نورو خلکو ته بد ښکاره شم . ما شومان خو پېر دې هکله ډېر زیات

www.libtool.com.cn

حساس وي خو هر کله چې څه لږ ډېر پاک اوصفا خوښوونکي او جمالیاتي
حِس لرونکي دي نو ځکه هر ما شوم خپله د کتابونو کڅوړه د نورو څخه ښه
گڼي خپله خولۍ که ښه هم نه وي تعریف یې کوي او د نورو څخه یې بهتره
گڼي په همدا ډول خپل ځان ورته زیات زورور د نورو په مقابل کې ښکاري
بله دا چې ما شوم په عملي ژوند کې هم داغواړي چې څه داسې کار وکړم چې د
نورو څخه مې حیثیت لوړ شي . هیڅ یو ما شوم هم که هغه په هره جسه او د هر
کړو، وړو وي او که په د نیاوي میدان کې په هر معیار وي هیڅ چېرې دا
هم نه شي زغملی چې څوک یا هغه ته او یا د هغه څه څیز ته او یا د هغه
عمل ته بد ووایي که څوک داسې وکړي نو دې سره د ما شوم ذهن ته یوه
سخته صدمه اودیکه وررسېږي هغه زړه ماتی شي او د ځان او جهان هر څه
څخه یې کرکه او نفرت پیدا شي ، کوم چې هغه د پاره او د هغه چاپېریال د پاره ډېر
ضرور ثابتېدی شي.

د روحیاتو ماهرین خو تر دې حده وایي چې د انسان د ټول ژوند محور
د ځان ستاینه ده او د انسان سره ترلي هر څه که بدني دي که ذهني دي
او که روحاني د دې محور نه تاو راتاو او څرخېږي او که دا د ځان ستاینې
توکي د انسان د ژوند څخه وځي او یا د دې توکي د پرورش خصمانه ونه شي نو
بیا داسې انسان ژوندی خو وي لېکن د داسې نه مرگ ډېر ښه گڼي . دیو
ښوونکي له پاره د ما شوم فطري جذباتو ته پام لرل او په نظر کې نیول ډېر زیات
مهمه ده هم د دې جذباتو څخه لوی کار آخستی شي لازم دي چې د ما شوم د
ځان ښودنې او ځان ستاینې جذباتو د اظهار پرمختگ خصماني د پاره په ښوونځي

کې ښنه او پوره توکي موجودوي په دې خو به يوطرف ته د ماشوم د دې فطري غوښتنو تنده ماته شي او بل طرف ته به د ماشوم د فطري غوښتنو

www.libtool.com.cn

په ترځ کې د پوهې او زده کړې خاوند شي او س به مونږ د هغو توکونو او شيزونو په هکله خبرې وکړو کوم چې په ښوونځي کې ضروري وي او د ماشومانو له پاره زړه راکښکونکي او جالب وي او د هغوی د فطري ذوق پوره کولو کې ښه کټور ګټل کيږي. او د زده کړې په لاروچاروکې به مونږ د ماشوم د دې تحريکونه په کار اچوو - يوه د شغل تحريک، بل د لوبو او دريم درشک او مقابلې.

## د شغل تحريک :

ماشومان په فطري طورسره يونه يو کار کې ذهني او په جسماني ډول سره مشغول وي او س په دې چې د ماشوم له پاره داسې اسباب مهيا او تيار کړې شي چې د هغه د شغل وخت په ګټوره طريقه په کار راوستی شي او په دغه وخت کې څه داسې شيزونه په داسې ډول ترسره شي چې د شغل نه شغل وي او د زده کړې نه زده کړه وي په دې لړ کې تصويرونه چارټونه او نور د ليدلو، کتلو مناسب شيزونه ډېر ګټور ثابتيږي ځکه چې د داسې شيزونو په ليدلو ماشوم د دوی په ننداره او تماشه شي او تماشه کولو کولو کې د هغه د سوچ او فکر قوتونه هم رابيدار شي د سوچ او فکر په نتيجه کې که ماشوم ناپوهه پاتې شي نو د حيرت په درياب ورګډ شي نو د سبق زده کړه هله په ښه طريقه ترسره کيدای شي چې د ماشوم ټول حسونه او د وجود ټول اعضاء مونږ دغه زده کړه کې راوبښ کړو نو پس په دې ډول د ماشوم دا ټول قوتونه هله د سبق کلکه ملګرتيا کوي چې هغه ته د سبق زده کړه او تدريس

په شغل کې ورکړی شي.

**دلوبو تحریک:** دا هم د ماشوم فطري غوښتنه ده چې هغه دې خپل ټول وخت لوبو، ټوکو کې تیر کړي د ماشوم د دې فطري جذبې نه داسې کار اخستل کیږي چې د سبق زده کړه دې هغه ته د لوبو، ټوکو په ذریعه او په ډیر چلول ورکړي شي داسې چې سبق ورته سبق او زده کړه ورته زده کړه ښکاره شي بلکې دا هر څه ورته ټوکې، لوبې ښکاري خو بیا هم چې د هغه ذهن ته ورسیږي هغه د زړه پورې او غوره طریقې په ذریعه ورکړی شوی زده کړه وي او یواځې او یواځې دا کارمونږ د ډرامو، سوال جواب، جمله سازی، په ذریعه کولای شو.

**درشک یا تضاد تحریک:** د ماشومانو روحیات څه په داسې ډول وي چې هغوی ځان د بل هر چا نه په ذهني او جسماني لحاظ بهتر او ښه ګڼي د ماشوم دا جذبه په ډیره کثرت د دې جذبې د تندې د سړولو له پاره په مدرسه کې د ماشومانو ترمنځه د خبرواترو، مکالمو بحث مناظرو، تمثیلونو، ډرامو او نورو انتظام وشي دا ټول هغه ټوکې دي دکومو شیانو له کبله چې د ماشومانو د رشک او مقابلې د تحریک نه مونږ ډیر په اسانه ډول کټه اخستی شو څکه چې په دې ټولو څیزونو کې مونږ ماشوم ته داسې موقع پیدا کوو چې هغه دې پخپله کوښښ وکړي او د نورو هلکانو نه دې په ذهني یا جسماني برخه کې خپل ځان اوچت کړي او ماشومان کولای شي چې د پورتني عملونو په ترڅ کې زیاته پوهه او زده کړه حاصله کړي او وخت یې هم په خوشحالۍ سره تیر شي.

**توره تخته:** دتعلیم او پوهنې ماهران په دې هکله په یوه خوله او متفقاً داوايي چې توره تخته (نیم استاد) دی او په توره تخته باندې د
www.libtool.com.cn
سبق خلاصه اولنډیز (نیم سبق) دی د دې مطلب داشوچې دزده کړې په لړکې د تورې تختې نه په غیرکارکیدی نه شي استادچې د لوست لیک او وینا په هکله ماشومانو ته څه هدایت ورکوي د دې لیک په توره تخته ډیرضروري دی هغه الفاظ چې په لوستلوکې د ماشومانو له پاره مشکل اونوي وکمني ښوونکی به هغه دمعنا سره په توره تخته لیکي څه قصه چې تیره کړي نوبیاهم د دغه قصې مهم ټکي په توره تخته لیکل کوي اوخپل درس ته به دوام ورکوي او په دغه درس کوم ځای کې چې څه مهمه خبره راشي چې دهغې حفظ په کار وي هغه به په توره لیکي نو په هم دې ډول هرکله چې ښوونکی په دې پوه شي چې ماشومان سره د دې دلوست ، وینا او لیک نه په مفهوم نه وي پوه شوي نو هغه بیا دغه وخت په توره تخته باندې د سبق دوضاحت او څرګندولو له پاره څه شکلونه ، تصویرونه هم جوړکړي ځینې ځایونوکې د درس د ترون او تعلق ظاهرولو له پاره دغه الفاظ په توره تخته ولیکي او بیاد مختلفو علامو او نخښو په ذریعه دغه نږدیوالی ښکاره کوي کله استاد د دغه لفظونو ترمینځه دغشي د نښان نخښه وکړي اوکله د مساوات د نخښې نه کاراخلي - هم دغسې ښوونکی د مختلفو وضاحتونو له پاره په توره تخته دنورو نخښو څخه هم کاراخلي نوپس ښوونکي ته لازم دی چې دا پورته عملونه په زده کړه په مجسم ډول په توره تخته ولیکي.

وخت د خپل آخري پیغام اوقانون وخت راغی او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته آخري او مکمل دین اوقانون ورکړ چې دانسان نسل ته یې ورسوي نو لومړی لفظ د الله تعالیٰ د وحې «اقرأ» یعنی ولوله لوست وو او بیا د قرآنکریم هر لفظ او هر آیت شریف یوه معجزه ده چې په حقیقت کې د الله تعالیٰ چې علیم او حکیم دی د انسان طرف ته د یوې مکملې او معجزانه ژبې پرښودل وو. د ځمکې پرمخ په زرګونو ژبې وجود لري. د هرې ژبې غټ صفت او کمال دا دی چې د هغې ژبې ویونکي یا د هغې پوهېدونکي خپل فکر، جذبات او احساسات وړاندې کوي او د انسان معاشره یو تر بله رانږدې کېږي دیو علم او پوهه د بل په کار راځي د ژبې د مقام او فضیلت چې په دې تېرو کرښو کې بیان شویدی په حقیقت کې یو اځي دغې ته توجه راګرځول وو. یوه بله غټه خبره خو دا ده چې د هرې وینا لیک، یا شعر او داسې نور نور مصنف څه ناڅه څوک لري مګر ژبه داسې معجزه ده او یو داسې عجیبه میراث دی چې د دې اعلیٰ مورث په هکله هیڅوک دا نه شي ویلی چې د ژبې واضع یا جوړونکی یا مصنف فلانی عالم، شاعر یا فنکار دی. د ژبې پیدا ښت د یوې معاشرې سره دی. ځکه نو عقیده دا لرل په کار ده چې هره ژبه د الله تعالیٰ یوه معجزه ده چې تل تر تله د انساني معاشرې په ژوندکې په کار شویده او هیڅ اله دا نه دي مناسب چې د ژبو تر منځ دغوره یا کم والی، ښه والی، بد والی بحث میدان ته راواچوي هره ژبه خپله کمال لري د ځینو ژبو ویونکو زیات فکر او څېړنه کړې وي او ځینې ژبو ویونکو ته دا موقع په لاس نه وي راغلې. د پرې ژبې پیدا شویدي خو د پرې کمې ورکې شوې. دا اوس وا یو او لیکو چې پښتو ژبه د دنیا د ژبو په دې اوږده سلسله کې کوم مقام لري. پښتو د پښتنو ژبه ده او په کروړونو ویونکي لري د علم الاسنه او تاریخ پوهانو او ماهرانو د پښتو ژبې او د پښتون قام د قدامت، زوروالی او د پښتنو د اصل نسل په هکله مختلف نظریات وړاندې کړیدي.

www.libtool.com.cn

# کره کتنه

د مشرانو وینا ده چې انسان د غلطیونه ډک دی او دا حقیقت دی چې د زانگونه تر لحده انسان نه غلطي کېږي خو دا هم بېځایه نه ده که مونږ دا ووایو چې د عمر په حال کې تجربه زیاتېږي او د تجربې په ډېرېدو غلطي کانې کمې وي او چې څومره پوهه کمه او عمر کم وي هومره به د غلطیو امکان ډېر زیات وي نو په دې اساس ښوونځې او مدرسې هم د دې له پاره دي چې د غلتهٔ د ماشومانو او شاگردانو د غطیو اصلاح کېږي غلطي کانې په څوځو ډوله دي.

لومړی د ژبې استاد به په هغو غلطیو زیات نظر اچوي کومې چې د لیک لوست او وینا په لړکې د ماشوم نه صادرېږي د صحیح لیک او صحیح وینا دواړو تربیت کېږي دي د پاره دا ضروري ده چې استاد په خصوصي ډول د صحیح لوست په لړکې ماشومانو سره پوره پوره کومک وکړي او د هغو هره غلطي که د تلفظ وي که د اعرابو که د تاکید په ډول وي که د زور په هکله که د موقع په حال کې وي که د آواز په میدان کې په صحیح ډول اصلاح کړی شي. په دې هکله لومړی خبره دا ده چې ماشومانو ته بالکل داسې موقع ورکول نه دی په کار چې هغوی څه څیز غلط واوري یا یو څیز غلط ولاړکړي واړه ماشومان چې په کوم لوست کې کوم ځای غلطي وکړي هم په هغه وخت یې اصلاح د ښوونکي صاحب له خوا په کار ده او د صحیح لفظ بیا بیا تکرار هم په دغه ځای کې ضروري

دی یعنی ماشوم چې کوم لفظ غلط ولولي استاد دې په هغه ځای کې ودروي او تلفظ دې ورته صحیح کړي او بیا دې ماشوم دغه صحیح لفظ درې یا څلور ځله پخپله ښوونکی ولاړ کړي او بیا دې په ټول صنف کې ټول شاګردان ورپسې د ښوونکي په څېر تلفظ تکرار کړي. د غلطیو اصلاح یوازې ژباني نه ده په کار بلکې ښه به دا وي چې صحیح لفظ دې استاد په توره تخته ولیکي او بیا دې ماشومانو ته داوینا وینا وښي چې هغوی پخپلو کتابچو کې دغه لفظ نقل کړي، ځینې تجربه کار استادان په ګڼو ټولګیو کې دغلطیو د اصلاح له پاره یوه ښه او ګټوره لار پکاروي چې انګرېزي کې ورته (SELF CORRECTION) وایي دې طریقې ته مونږ په خپله ژبه کې رځاني کره کتنه) ویلی شو د دې طریقې اصول دا دي چې استاد به د املاء یا د لوست دعمل څخه پس په لیک یا وینا کې امکاني غلطي ژباني په ګوته کړي بیا به په غلطیو بحث وکړي او د دې بحث نه پس به ټول لوستی شوی یا املاء شوی عبارت ښه واضحه او څرګند ډول په توره تخته ولیکي او هلکانو ته به دا ووایي چې د خپلو کتابچو او د تورې تختې د لیکونو خپلو کې لفظ په لفظ او تکی په تکي موازنه وکړئ په توره تخته چې څه لیک شوی دی هغه صحیح دی که ستاسو په کتابچو کې یو نیم لفظ یا ډېر الفاظ هوبهو د تورې تختې د الفاظو په شان نه دي نو تاسې پوه شئ چې تاسو غلطی کړېده او بیا دې استاد ورته ووایي په کتابچو کې لیک شوی هر داسې لفظ لاندې کرښه راکاږئ. د غسې چې څومره الفاظو لاندې کرښې را ښکلی شي هومره غلطي به ماشوم څخه صادره شوي وي بیا دې استاد ورته په ورون تندی ووایي چې په کتابچه کې د هر غلط لیکلی شوي لفظ په ځای درې، درې یا څلور، څلور ځله د تورې تختې نه صحیح لفظ پخپلو کتابچو کې نقل کړئ. نو پس دا طریقه د وخت د بچت د پاره او د ټولګیو د ګڼو هلکانو له پاره مهمه

www.libtool.com.cn

طریقه کښل کیږي.

# د ښه لیک د زده کړې لاري چاري

**دلیک مفهوم**: د خیالاتو، احساساتو او جذباتو هغه اظهار چې د خاصو شکلو، تررو، ټکو یا لفظونو په واسطه کیږي لیک ورته وایي. برسېره په دې د خیالاتو اظهار په اشارو یا په وینا هم کیدای شي لیکن دا اظهار یوا ځې دیو وخت له پاره وي او د دې څه مستقل حیثیت نه وي نو ویلی شو د خیالاتــو داسې اظهار او څرګندونه یوا ځې د یرو وخت د پاره وي.

نو بناءً ویلی شو چې د خیالاتو داسې اظهار او څرګندونه مستقل حیثیت لیک ګڼلی شو. د معزالله خان مومند د شعر دیوې مصرعې نه د لیک مفهوم ښه اندازه لګولی شو چې وایي.

هم چپ یم هم ګویا یم لکه خط چې د کتاب

یعنی لیک خیالاتو له د مستقل حیثیت ورکولو یوه داسې ذریعه ده چې د دې په برکت او کومک خیالات او جذبات عبث او خوشې نه شي پاتې کیدای بلکې دوام لرونکی حیثیت یې پیدا شي دغه لیک چې په هر وخت او هره پیړۍ د لوستونکې د سترګو مخې ته راشي نو د دې هم هغه خیالات ګویا شي یعنې کوم وخت کې چې د لیک د لیکلو په وخت کې لیکوال ریکارډ کړي وو.

www.libtool.com.cn

# دليک نخبني نښانې

دليک دود د ښه والي په لړکې ځيني اشارې ،علامې او نخبني نښانې هم شته چې په هره ليکنه کې د هغو خيال ساتل لازمي او ضروري دي.

بې نخښو نښانو ليکنه د لوستونکو دپاره ډېر ګرانی پيښوی او په ځينو ځايو کې ترې سمه معنا نه اخيستل کېږي له دې کبله غواړو چې دغه نښانې په لنډ ډول بيان کړو ترڅو چې دليک دود لړي نيمګړې پاتې نشي .

۱- ټکی ( . ) دا نخښه د پوره جملو په پای کې ايښودل کېږي او د جملې تماوالی ښيي لکه ، د پروت نه کرځنده کيدړ ښه دی . (مثال) خپل عمل د لارې مل دی . دغه پورتنۍ نخښې ته (ټکی) وايو.

۲- چپه پيښ ( ، ) دا نخښه د يوې لنډې وقفې له پاره په کارېږي په يوه کلمه يا جمله کې چې سړی غواړي لږ غوندې ځنډ وکړي نو دغه نخښه راوړل کېږي.

مګر زياته د کلمو او نيمګړو خبرو ترمنځ د عطف د پاره راځي لکه : زلمي ، توريالی ، توريکی او کل مکی په امتحان کې بريالي شول .

۳- ټکی او چپه پيښ (؛) دا نخښه د زياتې وقفې له پاره پکارېږي مګر د کلمو ترمنځ نه راځي بلکې د هغو مرکبو جملو په منځ کې راوړل کېږي چې په معنا کې يو له بله تړلي وي .لکه له هغه علم څخه چې اخلاق ورسره نه وي ؛ ناپوهي غوره ده . (روسو)

دي نخښې ته په پښتوکې (ځنډ کې) د ځنډ نخښنه وايي.

٤- دوه ټکي (:) دا نخښنه د يوې کلمې يا جملې د سپړنې، او ښارنې

www.libtool.com.cn

علامه ده، په معنیٰ د هغې کلمې يا جملې په آخرکې ليکل کيږي چې وروسته

ورپسې شرح او تفصيل راځي؛ دې نخښې ته (څرګندنې) وايي لکه:

د ژوندانه د کاميابۍ ستنې دا دي: پوهه، روغتيا، روزنه او اخلاق.

يا په پښتوکې د ډېر شاعران تېر شويدي لکه: ښکارندوی، رښدي خان، خوشحال خان

او نور.

٥- (؟) دا نخښنه د سوال او پوښتنې په وخت کې راوړل کيږي

يعنې د هر ډول سواليه جملو په آخرکې راځي دې نخښې ته (تپوسنې)

ويلای شو لکه: بې عمله علم څه په کار دی؟

٦- (!) دا نخښنه د غږ او ندا په وخت کې پکاريږي لکه ای ځلميه!

د لته راشه! مګر په اصل کې د خبرداری او تنبيه نخښنه ده او په دې وجه

د مخاطب امر په آخرکې هم راځي لکه: ورونو! ملاوتړئ! د وطن

ناموس وساتئ!.

دغه نخښنه د تعجب، شاباس او افسوس په ځای کې هم راوړل

کيږي يعنی په هرځای کې چې خبرداری او تنبيه عرض وي هلته ورځنې

کار اخيستل کيږي مګر د زيات تعجب او زياتې خبرداری په وخت کې دوه

ځله بلکې درې ځله هم ليکل کيږي لکه:

آفرين! په دې توره او ميړانه!

افسوس! چې د ډېر ښه وخت مې له لاسه ووت!!

اوه! څومره ښکلې مرغۍ ده!!

کله چې پوښتنه او تنبيه دواړه مطلب وي نو د تپوس او تنبيه نخښې

د واره یو ځای راځي لکه: دخدای له پاره داڅه حال دی ؟! دې نخښې ته (څوځکي) ویلای شو.

www.libtool.com.cn

۷-کش (ـــ) دا نخښه د یوې جملې د بېلوني د پاره لیکل کېږي، په تېره په سوال او ځواب کې دهرې جملې په سر کې راځي اوسوال او ځواب سره بېلوي لکه:

زلمي وویل:- توریالیه څه کوې؟

- خط لیکم

- چا ته؟

- خپل ورور ته

دا نخښه د دووکلمو د بېلوني د پاره هم په داسې وخت کې راځي، چې دهرې کلمې خپلواکي او ځانله والی مقصود وي لکه: صرف- نحو- بیان -عروض دا ټول ژبني علمونه دي. دې نخښې ته (بېلونه) ویلای شو.

۸- دوه کونجي خطونه ( ) دا نخښه د خاصو نومونو د توجه وړ شیانو او په منځ کې راالوېدلو جملو د ښودلو د پاره لیکل کېږي لکه: زه غواړم سبا ته له زمري سره (چې زما یو ښه ملګری دی) دکابل موزیم وګورم. زما ورور (ببرک) پخپل ټولګي کې اول لمبر دی. دې نخښې ته (لیندۍ) وایو.

۹- دوه غبرګې لیندۍ « » د دې نخښې په منځ کې د بل چا خبره، نظریه یا د یو کتاب عبارت او یا د زیاتې توجه وړ نا اشنا کلمه راوړل کېږي لکه: سیدجمال الدین افغان وایي: « هر پرهېزګار عالم که چېرې د شریعت په اساس کې فکر وکړي نو دا به ورته معلومه شي چې د ژوندانه پوهنې او علمونه له دین سره هېڅ مخالفت نه لري »

یا په دې ورځو کې د « مود » او « هتود » کلمې ډېرې ګرد انېږي.

۱۰- څوټکي (....) کله چې یو لیکوونکی دیو نوم یا یوې خبرې څرګندول

www.libtool.com.cn

نه غوړېږي نو په ځای يې يو څو ټکي ږدي او ورځني تېرېږي لکه : ماته د پښتو .... سډ معلوم دي .

۱۱- درې ستوري ( ★ ★ ★ )- دا نخښې د يوې رسالې يا يوې مقالې د يوې برخې د تماميدو او د بلې برخې د شروع کېدو په منځ کې ليکل کېږي. يعنې يو بحث د بل څخه بېلوي . .

۱۲ که چېرې يو نوم يا يوه جمله په خاص ډول د پاملرنې وړ وي نو لاندې ترې يوه اوږده کرښه راښکل کېږي لکه : زلمی او توريالی زما کلک ملګري دي .

يا ښاغلو ! دلته دريدل منع دي . او داسې نور.

www.libtool.com.cn

# دلیک زده کړه کې داملاء اهمیت

هر کله چې یو عبارت وکتی شي او ولیکلی شي نو دا یو داسې عمل شو چې په دې ډول نقل شو یعنې د سترګو په ذریعه د لیکلو ټکو، الفاظو پیژندګلوي وشي او د قلم په ذریعه د دغه پیژندلي لیدلي کتلي الفاظو په رنګ ټکي په ټکي او ټیک ټیک مشابه الفاظ ولیکلی شي دې ډول عمل ته نقل نویسي یا نقل لیکل ویلی شي لیکن د دې برعکس که چیرې عبارت یوازې په غوږو واوریدی شي او داوریدلو الفاظو د آوازونو په کومک د دغه الفاظ ولیکلی شي نو دغه عمل ته املاء ویل کیږي داملاء لیکلو څخه اول دا ضروري ده چې زده کړې مخکې عبارت لیدلی وي او د توړاو الفاظو پوه وي او په ذهن کې د دې الفاظو د شکل تصویرونه کښېنولی شوي وي هر کله چې د الفاظو د شکلونو او آوازونو ذهني تړون ترسره شي نو بیا دا کتل په کار دي چې آیا دې تړون ..... کې خوشه کمی زیاتی نشته د داسې ډول کمي زیاتي د معلومولو د پاره چې مونږ د کومې واسطې نه کار اخلو هغې ته املاء ویل کیږي.

**داملاء افادي ارخونه :** املاء د ماشوم د زده کړې په لړ کې د ټول ذهني دوباره د فکر او سوچ قضاوت او تفاوت نه مونږ ته معلومیږي چې د ماشوم

په ذهن کې د الفاظو ذخیره په کوم ډول ده ایا ماشوم دالفاظو صحیح نقشونه
خپل ذهن کې کښېنولی دي اوکه نه په دې باب کې داهم کېدای شي چې ماشوم
www.libtool.com.cn
یولفظ اورېدلی خو صحیح وي خولیدلو کې فرق وي یا یې لفظ خو لیدلی په
صحیح ډول وي خو دغه لفظ آواز یې غلط اورېدلی وي داملاء په ذریعه
مونږ دماشوم کمی زیاتی په ښه طریقه معلومولای شواومونږ ته دا پته لګېدلی
شي چې آیا دماشوم په لیدواو پوهې کې فرق اوتفاوت دی او یا یې په
آورېدو څه علت دی یا څه نقص دی. هرکله چې داسې نقصان مونږ یو
ځل داملاء په ذریعه په ګوته کړو نو بیا یې علاج څه ګران نه دی. ددې
څخه دا واضح شوه چې املاء یو ډول تشخیص دی دکوم په ذریعه چې مونږ ته
دماشوم د ذهني وجود، ناروغیو اوجسماني د نقصان پته نه کېږي بلکې دا د املاء په
ذریعه د ماشوم د اورېدو، پوهېدو قوتونه هم تربیت واخلي داملاء په وخت
کې د ماشوم توجه د استاد خولې ته وي اوپوره په غوږ وي چې استاد څرنګه
الفاظ او اوازونه د خولې څخه وباسي نو ځکه د دې پورته عمل په ذریعه دماشوم
د توجه کولو عادت پوخ شي نو هغه بیا د هرڅیز دپاره په فکر اوغور داورېدو
کوښښ کوي اودغه ښه غور، فکر او توجه او پام د زده کړې په لار کې د ماشوم
دپاره زیات مرسته او ملګرتیا کوي. دغسې داملاء په ذریعه د ماشوم د حافظې
قوت هم وده کوي ځکه چې ماشوم داملاء دوران کې چې څه لفظ یا جمله واوري
نو هغه لومړی په خپل ذهن کې محفوظه کړي او بیا یې دلیکلو تکل کوي.

## داملاء اصول:

داملاء دپاره دا ضروري ده چې ماشومان دکومې
توټې یا عبارت املاء لیکي باید چې دغه لومړی ښه ولولي په داسې عمل
سره ماشومان د زیاتو غلطیو څخه بچ کېږي ښه خو به دا وي چې املاء، دداسې

سبقونو نه وویلی شي چې دکومو هغو درسونو لوست چې داول نه بنه شویدی که څېرې دا ملاء عبارت دلوستل شوي کتاب تخته نه وي اخستل شوی نوبیا په کار ده چې په توره تخته باندې دغه عبارت بنه په ښکلی لیک ولیکلی شي او ښوونکی دې دغه د تورې تختې لیکل شوی عبارت ماشومانو ته په غور ولولي او دلوستلو نه وروسته دغه لیک وران کړي یعنی له منځه دې یوسي اوبیا دې هذا ذکر شوی عبارت املاء وویلی شي. دا ډېره ضروري ده چې املاء د هر ټولګي دزده کړې د توان او قدرت په مطابق وي د دې مطلب دا دی چې ماشومانو ته دې د خپل ټولګی د درسي کتابونو تخه املاء وویلی شي چې هغه درسونه یې لوستلي وي او زده کړي هم وي. دا نه ده په کار چې داول ټولګي ماشوم ته د دریم ټولګی کتاب تخه او د څلورم ټولګی زده کړو ته د دریم ټولګي کتاب تخه املاء وویلی شي په داسې عمل سره به داملاء اصلي غرض زمونږ دګوتو نه ووځي. داملاء څو وله ده یوې ته امتحاني املاء وايي او بلې ته تعلیمي املاء وايي.

**تعلیمي املاء:** - هغې ته وايي چې زده کړې ویل شوی کتاب ولیکلی شي او امتحاني املاء هغې ته وايي چې استاد یې یوځل واوري او ورته یې ولولي او بیا یې ماشوم ته یوه یوه فقره وايي او ماشوم یې لیکي. بله داخبره لومړی ډېره ضروره چې ښوونکی باید داملاء لیکلو جریان په وخت کې ډېر متوجه وي چې زده کړي یو د بل تخه نقل نه کړي چې داملاء لیکلو ماهیت له منځه لاړ نشي.

**داملاء تصحیح کول:** - داملاء تصحیح او دغلطیو اصلاح کول په دریو صورتو کې کیدای شي:

لومړی: ښوونکی دې د هر شاګرد املاء اصلاح کړي او دغلط لفظ په عوض دې ورته د صحیح لفظ لیکل په خپل شکل سورته وښیي او ښوونکی دې هدایت

www.libtool.com.cn

ځوک وايي چې پښتانه آريايي نسل دی. د محققينو يوه بله ډله دا رأی لري چې پښتانه نسلاً ساميان دي يعنی بنی اسرائيل ګڼي. ځينی محققين وايي چې پښتو د ګڼو ژبو څخه جوړه شويده. ځينې خلک پکې لا دا هم www.libtool.com.cn وايي چې پښتو د منګولي ژبو سره خپلوي لري. ليکن په تيرو څو کالو کې د پېښاور پوهنتون، پښتو اکيډيمۍ چې کومه څېړنه، تحقيق او ريسرچ کړيدی د هغې څخه دا روښانه او ښکاره ثابته شويده چې پښتو نه د آريايي نسل د ژبو څخه ده او نه د سامي ټبرنه، او نه د منګولي ژبو سره تعلق او پېيوستون لري او نه د دې تولو ژبو څخه جوړه شويده. پښتو په حقيقت کې د دې ټولو ژبو څخه زړه او مخکنۍ ژبه ده. او که داورته ووېلی شي چې پښتو د دنيا د ژبو مور يعنی اُم الالسنه ده نو دا به حقيقت ته د ټولو څخه نژدې نظريه وي. محققين او مؤرخين په دې يوه خوله دي چې د بابا آدم (ع)، د اولاد لومړنی ځانګو د منځنۍ ايشيا مرتفع سطح يعنی لوړه غرنۍ لته يا علاقه ده او همدغه ځای کې انسان د مهذب ژوند دلاره چار ولسومړنۍ رده ايښې ده او هم د دغه خاوشا څخه بنيادم د نورې دنيا په لرې لرې ځايونو کې خپور شويدی. پوهانو او ماهرانو چې بنی نوع انسان د ژبو په هکله کوم تحقيق کړيدی د هغې نه دا روښانه ښکاري چې پښتو هغه ژبه ده چې داد تهذيب د رڼا د څرېکې وهلو څخه زرګونه کاله مخکې د منځنۍ ايشيا په باختر علاقه کې د داسې نسل د خلکو ژبه وه چې دوی ورته «تيز، تندخويه او وحشتناک» وايي ليکن دا مؤرخين وايي چې د دې شاوخوا او سېدونکو قبيلو د ما قبل التاريخ دور په هکله نه دوی سره څه معلومات شته او نه څه نور څه سند يا ريکارډ په لاس راغلی دی چې د هغې نه دا معلومه شي چې دغه قبيلو کومې ژبې ويلې. د ماهرينو او مؤرخينو د تحقيق يوه نتيجه دا ده چې لکه څنګه چې د باختر د خواوشا نه انسان هر اړخ ته خپور شويدی او ځان سره يې خپله ژبه وړې ده. په

www.libreol.com.cn

ورکړي چې دا اصلاح شوی لفظ لس ځلې دتکرار په ډول ولیکي.

دوهم :- زده کړوچې کوم وخت املاء وليکله کروپ کروپ دې شي او يو تر بله دې دغلطيو اصلاح وکړي.

دريم : کيدای شي چې هر زده کړي خپله املاء دکتاب له مخې د هم هغه لوست سره مخامخ کړي او دغلطيو اصلاح وکړي او په عوض کې يې صحيح الفاظ وليکي.

***

# انشاء لیکنه

www.libtool.com.cn

**دانشاء لیکنې مفهوم :-** هسې خو که وکتلی شي نو بې شمېره خلک شته چې ژبه څه ډول خوا یې او لیکلی هم شي اما هر داسې لیک ویناڅه خاص اهمیت نه لري ترڅو چې دغه وینا او دغه لیک د ژبنو اصولو او لارو چارو په ترڅ کې ترسره نه شي دا ځکه چې زمونږ په دغه لیک او وینا کې یو خاص تربیت او یو خاص ډول نه وینو هم دغسې که یو شخص د خپلو خیالاتو، احساساتو جذباتو، نظریاتو اظهار او څرګندونه د الفاظو د وینا یا د الفاظو د لیک په ذریعه په بنا یسته او ښکلي طریقې سره داسې ترسره کړي چې دغه لیک یا وینا یې په ژبنو لارو او اصولو پوره او د ژبنو لارو چارو په ترڅ کې صحیح او په زړه پورې وي نو داسې سړي ته مونږ انشاء لیکونکی یا لیکوال ویلی شو او د هغه دغه وینا د انشاء لیکنې په نوم بللی شو.

**دانشاء لیکنې منشاء :-** د دې منشاء دا ده چې زده کړه وسړه چې د الفاظو کومه ذخیره جمع شي دغه ذخیرې نه د هغوی په ډېر فکر او خیال او پام کته او چتوي دغه الفاظ دې په داسې طریقه استعمال کړي چې یو لفظ په کې هم

بیځایه استعمال نه شي ددې لوی اوغت مقصد دادی چې زده کړي دي په
سوچه ، اسانه اوساده پښتوکې د لیک اووینا داسې تربیت حاصل کړي
www.libtool.com.cn
چې دغه لیک اووینا دهغوی دزده کړې اوپوهې ښکلي کالي اوجامې وګرځي
اوپرې ښه ښکاره شي ترڅوچې په دې پورته عمل کې ورته لاپسې دتخیل
دتولید قوه انکشاف ومومي.

# متلونه

www.libtool.com.cn

متلونه اونقلونه دپښتو دژبې یوه غوره برخه ده او په نثرکې داخلیږي.

متلونه په لنډولفظونوکې هغه فصیحې اوڅرګندې جملې دي چې ډېرښه او جامع مطلب اومقصد ترې اخستل کېږي په ژبه او ادب کې د متلونودمعنیٰ اودهغود منشاء اوسبب اوداستعمال دځای پېژندنه ضروري ده. مثالونه یې دادي:

۱- انسان تابع داحسان دی.

۲- اورته خپل اوپردي یو دی.

۳- په یوه ګل نه پسرلی کېږي.

۴- هرچاته خپل وطن کشمیردی.

۵- خپله خوله هم کلا ده هم بلا ده.

۶- دبېکاره خدای بېزاره.

۷- دتورې وهلې به جوړشي، دخولې ویشتلی نه جوړېږي.

۸- دکبرکاسه نسکوره ده.

۹- خوارکبرجن دخدای (ج) دښمن دی.

۱۰- دکیدړترنازدزمري څیرل ښه دی.

۱۱- پرې یې که نومرې یې که.

۱۲- خپله لاسه، ګله لاسه.

۱۳- چې تېرشو، هغه هېرشو.

په پورتني ډول دنمونې په ډول څو متلونه ولیکل شو.

www.libtool.com.cn

د مثال په ډول څو احساساتي لنډۍ لیکو،

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

که توری نه کړې نو بډخه کړې
چې مو شیدې د پښتنې رودلې دینه

که تور او ربل مې میراث یږي
د وطن جنګ دې جانان نه منع کومه

ته په سنګر کې ځان شهید کړه
زه به خپل شال ستا په زیارت وغوړومه

توري وهه بري به مومې
که بری نه وي ځوانان تل په تورو مرینه

❖ ❖ ❖

www.libtool.com.cn

# لنډۍ

لنډۍ، هغه شعرونه دي چې شاعرېې معلوم نه دي او د هر احساس - ښتانه او حساسې ښځې د احساساتو هينداره باله شي.

د ښتنو په غرو او رغونو کې په کليو او ښارونو کې، په شنو درو او لويو دښتونو کې دا شعار ځنګ او د کېږ دۍ اړخ ته، د شپانه په شپېلۍ او د بنوال په نی کې او بالاخره د پښتنې خاورې په هر کوټ او خوا کې د دې شعرونو ځنه په پېرشان خوندا خستل کېږي.

زاړه يې د ځوانۍ د خاطراتو په ياد وايي، زلميان او پېغلې د خپل زلميتوب شور او مستۍ پکې لټوي، مينانو ته دراز او نياز رويباري کوي، توريالیان ور سره د تورو په میدان کې ځرځېږي او پردېسیان په پردېسۍ کې د خپل وطن مينې پرې تازه کوي.

دا اشعار څومره چې ډېر ساده، سليس او روان دي هغومره د پردېو ژبو له اغېزې ځنه هم پاک او سپېڅلي دي.

د ډېرو نورو شعرونه که د عربي عروض تابع دي خو دا اشعار نه يوازې د عربي آوازونو او عروض ځنه بې نيازه دي بلکې د سيلابي سيستم په اساس ځانته عروض لري لوړې برخه يې لنډه (۹ سيلابه) او دوهمه يې اوږده (۱۳ سيلابه) د ه.

# دپښتوملي احساساتي جنګي لنډۍ

www.libtool.com.cn

ځـلمي ولاړ توري ترملا دي
غزاله ځي پرخپل وطن سر ورکوينه

جانان مې ســر په وطن کښيښود
په تار دزلفو به کفن ورته ګنډومه

ستا تردي ښکلی بوري جارشــم
په اوربه ستا دی ګرنه زه دخياله ځمه

جانا نه جنګ نه په شا نه شي
چي دهمزولو راله نه شي پيغورونه

توري به ګرځي بري به راوړي
که بري نه وي ځوانان تل په تورومرينه

هلک به خندا ته توره نه کــا
تر نيمايي مرچله زم ورسره ځمه

له خپله لاسه مې پري مرکــړي
چي د زي وشوي زه پر بام دروختمه

خال به ديار دوينو کښــيږدم
چي شينکي باغ کي ګل ګلاب وشرموينه

---

ا- ښکلی - ښايسته ، ۲ - بوري - څوپک ، ۳- خال - تکی

# د پښتو ژبې د نورو ژبو د مضمونو سره تړون

www.libtool.com.cn

تول ژب پوهان، د روحياتو ماهران او د زده کړې استادان دا خبره په يوه خوله کوي چې د نورو کورنو او بهرنو ژبو په زده کړه کې مورنۍ ژبه د ملا د تير حيثيت او اهميت لري په مدرسه يا ښوونځي کې ماشومان د مورنۍ پښتو ژبې نه برسېره د پارسي او دري ژبې بين المللي ژبې انګريزي زده کړه هم کوي هرکله چې د پارسي او انګريزي زده کړه کې مورنۍ ژبه تر ډېره حده لاس کولی شي نو مونږ ضرور د خپلې ژبې د کومک څخه کار اخلو او د خپلې پښتو مورنۍ ژبې د زده کړې د تربيت نه داسې ګټه اخلو چې دغه تربيت مو د نورو ژبو په زده کړه کې په کار شي.

# د پښتو او اسلامياتو تړون

هرکله چې د پښتو لفظ دويم مطلب اسلام دی نو دا پوښتنه هډو بې فايدې ده چې د پښتو او اسلامياتو سره خپلو کې څه ارتباط او تړون دی د مدرسو او ښوونځيو په نصاب کې اسلاميات يو لازمي مضمون دی او د هر شاګرد له پاره يې زده کړه ضروري ده. دغسې پښتانه ماشومان پښتو وايي پښتو لولي نو دغه وينا او لوستل يې د واړه يو مخصوص رنګ لري او دغه رنګ يې د اسلامي رنګ څخه بل رنګ څه کېدای نه شي او نه کېږي ځکه چې د هر پښتون ماشوم خيالات، احساسات، نظري سوچ او فکر هم دغه اسلامي رنګ کې خړوب ښکاري. نن سبا پښتو ژبه کې اسلامي تاريخ، قرآن مجيد، تفسير، د احاديثو او فقهي ترجمې او داسې نور هر څه شته چې د يو مسلمان زوی پرې وپوهېږي.

# شفاهي تمرينونه

www.libtool.com.cn

## اسدالله د انګورو باغ لري.

څوك د انګورو باغ لري؟
آيا ته انګور پېژني؟
آيا تا انګور خوړلي؟
ته څو ډوله انګور پېژني؟
غوره انګور څه نومېږي؟
انګور بدن ته څه ګټه رسوي؟
آيا شنه او اومه انګور سړی وخوري؟
آيا د اوموانګورو خوراك زيان څه دی؟
د وچو انګورو نوم و ښايا ست؟
په افغانستان کې انګور کومه مياشت کې پخېږي؟

کولای شو چې یوه مشخصه موضوع یا جمله په شاګردانو www.libtool.com.cn
شفاهي تمرین کړ ولکه :

احمد په کورکې یوه لویه زراعتي لنګه غوا لري.
احمد په کورکې څه شی لري ؟
غوا د څه له پاره ده ؟
غوا څوک لري ؟
آیا ته غوا پېژنې ؟
یا دا ډول : دوکاندار پرتله شیان تلي .
دوکاندار پرتله څه شی تلي ؟
تله د څه له پاره ده ؟
تله څوک لري ؟
آیا تا تله لیدلې ده ؟
آیا ته تله پېژنې ؟

همدغه ډول دوی وایي چې دغمولومړي دا نه هم د مینځنۍ ایشیا میدانونو ته خوا
وشا پنځه ویشت زره (۲۵۰۰) کاله ق-م کې راغلي دي د مؤرخینو دا عقیده ده
چې د ما قبل التاریخ د دورې انسان د دجلې او فرات د میدانونو څخه واخله

www.libtool.com.cn

دایران د زاګرس غرونو د سلسلې نه لمرخاته، ته تګ راتګ روان وو او حق چې دا
تګ راتګ تر پنځه زره ق-م پورې جاري وو. د قطبي میدانونو (سایبیریا) څخه د
آریایي نسل خلکو حرکت او تګ راتګ د دوه زره (۲۰۰۰) کاله ق-م نه پیل شوی
وو او وایي چې څه وخت دوی سهیلي اړخ ته مرو (مورا) او بخارا (سُغدانیه)
ته راورسېده نو دوی په بلخ (باختر) کې داسې قبیلې سره مخامخ شو چې د ژند
اوستا په سند هغه خلک د پرولورو جندو ګرځولو عادت لرلو. په ژند اوستا
کې او همدغه ډول د یوناني مؤرخ «هیرودتس» خپل کتاب کې پنځه سوه (۵۰۰)
ق-م او همدغه ډول ریګویدا کتاب کې پنځه سوه ق-م د دغو قبیلو نوم بخدي یا بختي،
پختي، پختین، پختوان، یا پختوین ذکر کړیدی او هر یو دا ویلي دي. دا د پرو
لورو لوړو بیرغونو او جنګونکي خلک وو «هیرودتس» د دوی وطن ته پکتیکا
وایي. ظاهره او څرګنده ده چې بخت، پښت، پختین، پخدی، پختی، پختوان یا پختوین
همدغه پښتون یا پښتانه وو چې هغوی د آریاو د خورېدو نه زرګونه کاله مخکې یو مهذب
ژوند تېروه نو لازماً د دې څخه دا نتیجه راوزي چې د دې قبیلو ژبه د آریاو د ژبو نه
زړه وه او دغه ژبه هم پښتو وه ځکه چې د دې قامونو بېله ژبه وه او هغه بېله پښتو نه بله
کومه کېدای نه شوه که چېرې پختوان، پختوین، پختي، بخدي ټولو قبیلو کې زاړه
ګڼي او تاریخ یې د ټولو څخه مقدم شمېرې نو آخر دوی به چې کومه ژبه ویله هغه
ژبه یې د پښتو نه بله کومه کېدای شوه د لومړنیو آریاو د ابتدایي لیکونو په سند
داویل کېږي چې په ځینو علاقو کې یوه نړه ژبه وه چې «آریک» نومېده لیکن کوم چې
انسانان نورو ملکونو ته خواره شول نو نورې ژبې پیدا شوې او آریک بېخي ورکه شوه

www.libtool.com.cn

## غواړو چې د څو کليدي الفاظو څخه يو متن ترتيب کړو لکه

(غواوې، پسونه، شيدې، محمود، بزگر، کور، غوړي)

## تمرين:

محمود يو بزگر سړی دی. د ډېر ښه پسونه او ډېرې غواوې لري، کله کله پسونه هم خرڅوي او همدارنگه د قره قل پسونه او مېږې هم لري برسېره پر دې زراعتي غواوې لري چې زياتې شيدې او غوړي ورڅخه حاصلوي او د خپل کور د ښه ژوند کارېږي برابر کړي او د پورته موادو څخه زياتې پيسې هم ورڅخه په لاس راوړي.

غواړو چې د ځينو ربطيه کلمو په واسطه جملې سره ترتيب کړو لکه: يا، مګر، سره د دې، بيا هم، لکه چې، احتمال ممکن....

www.libtool.com.cn

## تمرين:

يا: اى محموده! آرام شه يا حرکت وکړه.
مګر: پرون ورځ احمد په ښځو بچو زمونږ ځاى ته راغلى وو مګر زه ښار ته تللى ووم.
سره د دې: روسان سره د دې چې نوې وسله په ډېره پيمانه د افغانستان په مجاهدينو استعمالوي بيا هم د ماتې سره مخامخ دي.
لکه چې: په اوومه د دسمبر د مجاهدينو په غونډه کې ښاغلي محترم د اسلامي حزب رهبر لکه چې ويلي مونږ په افغانستان کې ائتلافي حکومت نه منو.
احتمال: په دې ورځو کې احتمال لري چې احمد جهاد ته لاړ شي.
ممکن: د پوهې په واسطه ممکن ده چې انسان لوړ مقام ته ورسيږي.

## مونږ کولای شو چې یوه مشخصه موضوع د مکالمې په شېر په شاګردانو تمرین کړو لکه په لاندې ډول :

www.libtool.com.cn

احمده : ته په کورکې زراعتي لنګه غوالرې ؟

هو : محموده زه په کورکې زراعتي لنګه غوالرم.

احمده : غوا د څه لپاره ده ؟

محموده : غوا د شېدو له پاره ده .

احمده : شېدې د بدن له پاره څه ګټه رسوي ؟

محموده : ځکه چې شېدې پوره غذا ده د شېدو خوراك سړي ته قوت بخښي.

احمده : د شېدو نه څه شیزونه جوړېږي ؟

محموده : د شېدو ځنه پېروی، کوچ ، غوړي ، پنیر ، قروت ، ماسته ـ جوړېږي .

احمده : آیا ستاسې په کورکې دغه پورته یاد شوي شیزونه جوړېږي ؟

محموده : هو زمونږ په کورکې دغه پورته یاد شوی شیزونه د پرېنه په پوره اندازه جوړېږي .

آیا تاسې : دغه پورته شیان په بازارکې خرڅوئ ؟

هو مونږ : دغه یوه اندازه پورته شیان په بازارکې خرڅو او د خپل کور نیمګړتیاوې پرې پوره کوو .

# مونږ کولای شو چې د مشتق نوم څخه نور نوم نومونه منځ ته راوړو لکه په لاندي ډول :

www.libtool.com.cn

غر ، غرونه ، غرني ، غرني ، غروال ، غرېزه ، غرګي ، غرواله
غروالان ، غروالی ، غروالې ، غرنۍ ، غرېزي .

یادا : میلمستیا ، میلمستون ، میلمستیاوي ، میلمه ، میلمانه ، میلمنه ،
میلمني ، میلمه پال ، میلمه پاله .

یادا : ننداره ، نندارې ، نندارتون ، ننداره چې ، نندارچیان ، نندارونه ،
نندارونې ، ننداریتیا ، ننداریتیاوي ، ننداره توب ، ننداره توبې .

یادا : ښوونکی ، ښوونځی ، ښوونه ، ښوونې ، ښوونکي ، ښوونکې ،
ښوونځې .

یادا : نرۍ ، نرۍکاني ، نرۍوال ، نرۍ پال ، نرۍوالی ، نرۍوالي .

www.libtool.com.cn

# د دې لپاره چې يوه نيمګړې جمله وليکو کولای شو چې د فکري انکشاف او د موضوع مناسبت له مخې دا سې پوره کړو.

د تمرين (مثال) :- برېالی هر سهار . . . . . کوي .

د جملې څرګندونه : برېالی هر سهار لمونځ کوي .

همدارنګه کولای شو چې څو نا مکمله جملې او بې ترتيبه سره په ترتيب کړو لکه - برېالی هر سهار . . . . کوي او . . . ښوونځی . . . . . لپاره ځي او . . . . . بوخت وي . . . نه وروسته . . . . کورته راځي .

د موضوع څرګندونه : برېالی هر سهار لمونځ کوي او د چای څښلو نه وروسته ښوونځي ته د سبق لوستلو لپاره ځي او تر ½ ۱۲ بجو پورې په سبق بوخت وي او د ښوونځي د رخصتی نه وروسته کورته راځي

د دې لپاره چې يوه لنډه جمله وغوړول شي او پوره کړکولای شو www.libtool.com.cn
نورې کلمې پرې زياتې کړو او همدا ډول د ژبې د ډېر
اصطلاحات پکې استعمالولی شو پس پورته موضوع ته د
ضرورت له مخې توجه راکړزوو .

د مثال په ډول ؛ احمد ښار ته ځي .

تمرين ؛

احمد نن ښار ته د ورېجو اخستلو لپاره ځي .
احمد شايد نن ښار ته د ورېجو اخستلو لپاره ځي .
احمد شايد نن ښار ته د ورېجو او ... اخستلو لپاره ځي .
احمد شايد نن ښار ته د خپل ملګري زلمي ملاقات او د ورېجو او ...
اخستلو لپاره ځي .
احمد شايد نن ښار ته ضمناً د خپل ملګري ملاقات او د ورېجو او هم
داسې نور شيانو اخستلو لپاره ځي .

www.libtool.com.cn

## ددې لپاره چې بې ربطه کلمات او الفاظ سره منظم کړو او د موضوع شکل ورکړو نو په دې عمل پیل کوو.

ښوونځی ، شاګرد ، بازار ، مهاجر ، ورځ ، احمد ، کتابونه ، ښوونکی ، بنه ، دول .

## تمرین:

ښوونځی د تعلیم او تربیې ځای دی. او هر شاګرد ته ښکاردي چې د ښوونځي د قانون سره تلنه وکړي او همدارنګه مسلمان او با ایمانه ښوونکي ته لازم دي چې هره ورځ د درسي پلان او تدریسي اصولو له مخې په ښه دول دزده کړو دزیاتي پوهې لپاره تیاري ونیسي. څه رنګه چې احمد مهاجر شاګرد دی د کمپ د ښوونځي په ځلورم ټولګی کې دی. او د مهال وېش له مخي کتابونه لولي. او کله کله د پلار سره د خوراکي موادو اخستلو لپاره بازار ته هم ځي.

www.libtool.com.cn

غوارو چي ځيني د پوښتني کلمات د نموني په ډول وليکوا و بيا يي په جملو کي استعمال کړو لکه:

(څه ، څومره ، څو ، کله ، چيرته ، چا ، څوک ، څله ، کوم ، آيا ، څرنګه)

تمرين:

څه: احمده څه کار کوي ؟

څومره: احمده مياشتي څومره تنخوا لري ؟

څو: احمده څو غواوي لري ؟

کله: احمده کله ښار ته ځي ؟

چيرته: احمده چيرته ځي ؟

چا: چا خط ليکلي دی ؟

څوک: څوک ښار ته ځي ؟

څله: څله بېکاره يي ؟

کوم: کوم ډول کورکي اوسيږي ؟

آيا: آيا احمده ته آس لري ؟

څرنګه: احمد ته دي څرنګه وويل ؟

www.libtool.com.cn

# موږ کولای شو چې دیوې جملې د پوره وضاحت بلې سره دارتباط لپاره ځینې اصطلاحات استعمال کړو لکه:

په ترڅ ،عین حال، پدې نسبت، په هغه صورت، ګواکې، رښتیا چې، انشاءالله، سمدستي، پرله پسې . . .

محمود پرون ورځ چې په شپږو بجو جهاد ته حرکت کاوه پدې ترڅ کې پلاریې هم یوځای ورسره له کوره ووت.

ښاغلي فاضل حکمت یار چې د تیرې دوشنبې په ورځ د مجاهدینو اتحاد په باره کې وینا کوله په عین حال کې د نوموړي وینا خبریالانو ثبتوله.

څرنګه چې احمد ناروغ و پدې نسبت ښوونځي ته سوب نه شو.

په هغه صورت: د مهاجرینو تګ افغانستان ته په هغه صورت کیدای شي چې روسان پرته له قید او شرط څخه ووځي.

انشاءالله: هغه وخت نږدې دی چې انشاءالله افغانستان به آزاد شي.

سمدستي: بدون د پوره او ژور فکر څخه سمدستي په یو عمل پیل لازم نه دی.

ګواکې: نن ورځ خلک داسې خوشحاله بریښي ګواکې ته به وایې د اختر ورځ ده.

رښتیا چې: محب الله رښتیا چې یو پیاوړی مجاهد دی.

پرله پسې: د پسرلي په موسم کې پرله پسې بارانونه په ډېر شدت سره وریږي.

www.libtool.com.cn

| | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|
| غایب واحد : | هو هغه ښارته لاړ. | هو هغه ښار ته لاړه . |
| غایب جمع : | هوهغوی ښارته لاړل. | هوهغوی ښارته لاړې. |
| حاضر واحد : | هودې ښارته لاړ. | هو دا ښارته لاړه . |
| حاضر جمع : | هودوی ښارته لاړل. | هودوی ښار ته لاړې . |
| مخاطب واحد : | هوته ښارته لاړې . | هوته ښار ته لاړې. |
| مخاطب جمع : | هوتاسو ښارته لاړئ . | هوتاسې ښار ته لاړئ . |
| متکلم واحد : | هوزه ښارته لاړم . | هوزه ښارته لاړم . |
| متکلم جمع : | هوموږ ښارته لاړو. | هوموږ ښار ته لاړو. |

پورته د مثبت لازم فعلیه مطلقې ماضي جملو تمرین او ګردان دی .

د منځنۍ ایشیا په غرنیزه علاقه کې چې پنځه زره (۵۰۰۰) قبل مسیح کې کومه ژبه ویل کېده دغه یوه ډېره زړه ژبه وه او د دنیا د ډېرو ژبو مور وه او د ډېرو ځانګې لري یو طرف ته پهلوي، اوستا، فارسي او سانسکرت او د پاک و هند نوري ډېري ژبې د دغې ژبې نه راوتلي دي بل طرف ته د یورپ کښې ژبې لکه یوناني فرانسیسي، جرمني، روسي، لاطیني، ارمني، هسپانوي او نورې هم د دغه مأخذ او منبع نه راوتلې دي په دوی کې بې شمېره لفظونه مشترک دي د منګولي او افریقایي ژبو د ګروپ ذکر دلته ضروري نه ښکاري خو داسې معلومېږي چې د دې ټولو نه یوه زړه ژبه وه چې هغه وخت ویل کېده چې څه وخت بنیادم د مزکې په مخ د تهذیب ابتدا کوله د دې ژوند ظهور هم په دې اوچتو غرونو کې شوی وو او چې څه وخت مزکه د لمر څخه رابېله شوه او ورو ورو یخېده، غونډېده، سختېده نو د اوبو نه لومړي ځل کې د «پامیر» د غرونو سرونه راڅرګند شول او چې اوبه ورو ورو په شا کېدې او زمکه راښکارېده نو واضحه ده چې د انسان د ژوند څه چې د هر ډول حیات او ژوند ابتدا به هم په دې خواوشا کې شوې وي. ځکه چې د زمکې په مخ الله تعالی د ژوند سرچینه اوبه ښودلې دي. او د آدم علیه السلام کالبوت یې د هغې خټې نه جوړ کړی دی کوم کې چې د اوبو ګډون وو. د جغرافیې پوهانو د زمکې پر مخ د انسان د ـ اوسېدو، خورېدو او ډېرېدو په ذکر کې داسې څه او روښانه ویلي دي چې زمکه په اوبو کې پټه وه او بیا ورو ورو اوبه اوچېدې او آخر زمکه ښکاره کېده لکه چې اوس دریمه برخه مزکه او وچه ده او دوه برخې د اوبو یا سمندر لاندې او تاریخ هم دا ثابته کړه چې په لومړي ځل د بنیادم د نسل بېلتون د حیواناتو نه هم په دې لوړه او اوچته مرتفع سطحه کې پیل شویدی. او د دغه ځای څخه انسان خور شویدی. داسې معلومېږي چې لویدیز، ختیز، قطب او سهیل خواوته ترې نور

www.tbtool.com.cn

www.libtool.com.cn

| | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|
| غایب واحد : | هو هغه لاړ. | هو هغه لاړه . |
| غایب جمع : | هوهغوی لاړل. | هوهغوی لاړې . |
| حاضر واحد : | هو دی لاړ. | هو دا لاړه. |
| حاضر جمع : | هودوی لاړل. | هودوی لاړې . |
| مخاطب واحد : | هوته لاړې . | هوته لاړې . |
| مخاطب جمع : | هوتاسو لاړئ. | هوتاسو لاړئ . |
| متکلم واحد : | هوزه لاړم . | هوزه لاړم. |
| متکلم جمع : | هومونږ لاړو. | هومونږ لاړو. |

پورته د مثبت لازم فعل مطلق ماضي تمرین اوګردان دی.

www.libtool.com.cn

| | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|
| غایب واحد : | هغه لاړ . | هغه لاړه . |
| غایب جمع ؛ | هغوی لاړل . | هغوی لاړې . |
| حاضر واحد ؛ | دی لاړ . | ـا لاړه . |
| حاضر جمع ؛ | دوی لاړل . | دوی لاړې . |
| مخاطب واحد ؛ | ته لاړې . | ته لاړې . |
| مخاطب جمع ؛ | تاسو لاړې . | تاسو لاړې . |
| متکلم واحد ؛ | زه لاړم . | زه لاړم . |
| متکلم جمع ؛ | مونږ لاړو . | مونږ لاړو . |

پورته د لازم فعـل د مطلقي ماضی تمرین او ګردان دی .

www.libtool.com.cn

| | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|
| واحد غایب ؛ | هغه راغی . | هغه راغله . |
| جمع غایب ؛ | هغوی راغلل . | هغوی راغلې . |
| واحد مخاطب ؛ | ته راغلې. | ته راغلې. |
| جمع مخاطب ؛ | تاسو راغلی . | تاسو راغلی . |
| واحد متکلم ؛ | زه راغلم . | زه راغلم . |
| جمع متکلم ، | مونږ راغلو . | مونږ راغلو. |

پورته د مطلقي ماضي تمرین اوګردان دی .

www.libtool.com.cn

| | مذکر | مؤنث |
| --- | --- | --- |
| غایب واحد : | هغه يې پخلا کړی . | هغه يې پخلا کړې . |
| غایب جمع : | هغوی يې پخلا کړي . | هغوی يې پخلا کړې . |
| حاضر واحد : | دی يې پخلا کړی . | دا يې پخلا کړې . |
| حاضر جمع : | دوی يې پخلا کړي . | دوی يې پخلا کړې . |
| مخاطب واحد : | ته يې پخلا کړی . | ته يې پخلا کړې . |
| مخاطب جمع : | تاسو يې پخلا کړي . | تاسو يې پخلا کړې . |
| متکلم واحد : | زه يې پخلا کړم . | زه يې پخلا کړم . |
| متکلم جمع : | مونږ يې پخلا کړو . | مونږ يې پخلا کړو . |

غایب واحد : هغه يې ممکن پخلا کړي .

" " : هغه يې شاید پخلا کړی .

" " : هغه يې خامخا پخلا کړي .

پورته د فعل حال تمرین دی او د ممکن، شاید، خامخا اصطلاحات د پورته تمرین په ټولو حالاتو کې استعمالیدای شي .

www.libtool.com.cn

| | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|
| غایب واحد | آیا هغه لاړ ؟ | آیا هغه لاړه ؟ |
| غایب جمع | آیا هغوی لاړل ؟ | آیا هغوی لاړې ؟ |
| حاضر واحد | آیا دی لاړ ؟ | آیا دا لاړه ؟ |
| حاضر جمع | آیا دوی لاړل ؟ | آیا دوی لاړې ؟ |
| مخاطب واحد | آیا ته لاړې ؟ | آیا ته لاړې ؟ |
| مخاطب جمع | آیا تاسو لاړئ ؟ | آیا تاسو لاړئ ؟ |
| متکلم واحد | آیا زه لاړم ؟ | آیا زه لاړم ؟ |
| متکلم جمع | آیا مونږ لاړو ؟ | آیا مونږ لاړو ؟ |

پورته د پوښتنې لازم فعل مطلقې ماضي تمرین اوګردان دی .

www.libtool.com.cn

# د لازم فعل د مطلق ماضي گردان

| | | مذکر | مؤنث |
|---|---|---|---|
| غایب | واحد | هغه ودرېد . | هغه ودرېده . |
| | جمع | هغوی ودرېدل . | هغوی ودرېدي . |
| حاضر | | دي ودرېد . | دا ودرېده . |
| | | دوی ودرېدل . | دوی ودرېدي . |
| مخاطب | | ته ودرېدي . | ته ودرېدي . |
| | | تاسو ودرېدئ . | تاسو ودرېدئ . |
| متکلم | | زه ودرېدم . | زه ودرېدم . |
| | | مونږ ودرېدو . | مونږ ودرېدو . |

www.libtool.com.cn

| مذکر | مؤنث |
|---|---|
| احمد راغی . | کلالی راغله . |
| محمود او احد راغلل | ملالی او کلالی راغلي . |
| احمده ته راغلي . | کلالی ته راغلي . |
| احمده او محموده راغلئ . | ملالی او کلالی راغلئ . |
| زه احمد راغلم . | زه کلالی راغلم . |
| زه احمد او محمود راغلو . | زه کلالی او ملالی راغلو . |

www.libtool.com.cn

# د دوهم ټولګي د پښتو ژبې د تدريس پروګرام

د دوهم زده کړې ته د ژبې د پوهې له پاره ښوونکی بايد دا لاندينی د -
تدريس د اندازې اصول ( د درس کيفيت او کميت ) تر نظر لاندې ونيسي او وروسته
د هغې د ژبې په تدريس پيل وکړي او د تدريسي پلان له مخې دې زده کړو ته
سبق وايي .

څرنګه چې د تدريسي قوانينو له مخې دا نتيجه په لاس راځي کوم وخت چې د اول
ټولګی زده کړي دوهم ټولګي ته بريالی کېږي نو دغه زده کړې به ضروري د تصويرونو
په پېژندنه او معلومات کې او د توروپېژندل او د دوه توريزو او درې توريزو او
څلور توريزو د الفاظو ترکيب او برسېره په دې د ساده الفاظو استعمال او لوستلو
کې پوهه او مهارت حاصل کړې وي نو ښوونکي ته لازم دی چې د درسي پلان
د اصول سره برابر د دوهم ټولګی زده کړو ته په ابتدا کې ( د درسي کال د شروع
څخه ) د ژبې ساده عبارت يعنې د هغې موضوع عبارت چې څلورو کرښو ته ورسېږي
تدريس وکړي او دغه عمل ته به تر درې مياشتو پورې دوام ورکړي او په دوهم قدم
کې به ښوونکی دغه زده کړو ته د زده کړو د استعداد له مخې که ښوونکی ته د هغوی د
فکر انکشاف روښانه شو ښوونکی کولای شي چې دېرې موضوع عبارت چې -

شپږ کرښې تدریس کولای شي او ښوونکی به د هغې موضوع یا درس صحیح ډول لوستل او په مطلب او نتیجه باندې زده کړي پوهوي او د برجسته
www.libtool.com.cn
الفاظو معنیٰ او د هغې استعمال په توره تخته باندې ښوونکی په زده کړو کار وکړي او همدارنګه د املاء او درسي موضوع یا درس په ټول برخه کې زیاته ونډه زده کړوته ورکړي چې کټ مټ د ښوونکي په څیر عمل وکړي (په مجسم ډول سره) او همدارنګه په دریم قدم کې به ښوونکی د ژبې تدریس په معیاري ډول سره د خپلو شاګردانو د استعداد او فکري انکشاف له حیثه د ژبې تدریس مخ په وړاندې بیایي یعني په زده کړو به د پښتو د کتاب قرائت او د کتاب په هر درس په الفاظو او د درس په ماهیت او نتیجه باندې زده کړي پوهوي او برسیره په دې د ځینو غورو او په زړه پورې درسونو لکه لنډ ساده نظمونه، دعا، حمد، نعت، اسلامي ترانې او غوره قصې، متلونه او داسې نور د ښوونکی له خوا په زده کړو یاد ول او حفظ هم ضروري دی ترڅو چې د زده کړو ذهني استعداد قوي شي او ذهنونه یې د حفظ قدرت حاصل کړي نو په دې اساس د مثال په ډول د دوهم ټولګی لپاره د الاندینی درسونه لیکو.

# لطیفه

یو ساده سړی په ژمي کې د یو کلي ترڅنګ تیرېده د کلي سپي پرې راټول شول کله چې هغه تیږې ته لاس کړ تیږه په ځمکه کې نښتې وه مسافر په زوره ناري کړې چې دا څنګه کلی دی چې سپي یې خوشې کړي دي او تیږې یې تړلې دي.

| شماره | لغات | معنیٰ | شماره | لغات | معنیٰ | شماره | لغات | معنیٰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لطیفه | خوندوره خبره | ۳ | څنګ | خوا | ۵ | مسافر | پردیس |
| ۲ | ساده | کم عقله | ۴ | تیږې | ډبرې | ۶ | ناري | چیغې |

www.libtool.com.cn

# قوم داسې زلمي غواړي

کار چې د نرانو کړي　　خوی د بهادرانو کړي
هر وخت تیار اوسي　　غور د خوارانو کړي
کونډې یتیمان پالي　　کار د شریفانو کړي
قوم داسې زلمي غواړي

سر چې په تلي کېږدي　　ویره د چا نه کوي
کار پسې د ننګ زغلي　　خوشې سودا نه کوي
ملک ته مال و سر بخښي　　هسې غوغا نه کوي
قوم داسې زلمي غواړي
قوم داسې زلمي غواړي

| معنیٰ | لغات | شمېره | معنیٰ | لغات | شماره |
|---|---|---|---|---|---|
| غیرت | ننګ | ۵ | ننګیالان | بهادران | ۱ |
| فکر | سودا | ۶ | بې وزلې | خواران | ۲ |
| وطن | ملک | ۷ | ښه خلک | شریفان | ۳ |
| شور او زوږ | غوغا | ۸ | میدان | تلی | ۴ |

قامونه جوړ شوا ما د غلته په ځای وګړي پاتې شو د دغه وګړي يوه ژبه هم وه چې
مؤرخين وايي چې داد ټولو ژبو مور وه خو ددې ويوونکو پالنه او روزنه داسې
ونه کړی شوه لکه څنګه چې په کار وه خو ديوقوي او پوخ او ټينګ وګړي
ژبه وه نو بيخي ورکه نه شوه دغه وګړي نن ژوندي دي چې د پښتون په نوم
ياديږي او هم يې ژبه ښه قوي او ژوندۍ ده او ددې وګړي دخپلې ژبې يو
غير معمولي کيفيت دی چې هغه د نړۍ په بل هيڅ قام يا ژبه کې نشته پښتو دېې
قام ژبه هم ده او ددې قام ولسي ژوند، قانون او آئين او د اخلاقو مجموعه هم ده .
پښتو پرېښودل د پښتنې روايت سره هيڅکله سمون نه خوري ځکه نو د کلکو
غرونو د سخت کښه او سخت ځان پيداوکړي تل کلک او پوخ پاتې شوا او د دغه خوار
شا څخه چا بيخي ونه نړولی شو. پښتو په حقيقت کې ددې وګړي لاترننه خپل ځان
باقي ساتلی چې دين هم دی او آئين هم، ژبه او تهذيب هم دی، پښتون په دې داسې
پوخ ولاړ دی چې په هيڅ حالت کې نه خپل آئين پرېږدي او نه خپله ژبه، چې پښتو
ترې پاتې شي نو ايمان ترې لاړ شي. پښتو د پښتون په عقيده مذهب هم دی
ځکه چې پښتون اسلام ډېر ژر قبول کړيدی او خپل کړی وو وجه داوه چې د
اسلام لارې اخلاق مطلقاً او ټيک ټاک هم هغه دي کوم چې د پښتو
د تصور او مفکورې ترکيبي اجزاء دي. پښتو او اسلام هم معنا توري ګرځېدلي
دي. د «علامه اقبال» «خودي» په اصل کې د پښتو او دهغې د فلسفې يعنی د
اسلام د فلسفې يوه عالمانه او شاعرانه تفسير دی. ځکه چې د پښتو د تصور که
فلسفيانه تجزيه وشي نو بيا به يې په دې دريو اصولو بيا موندلی شي. يو دا چې
پښتون به خامخا مسلمان وي، دوهم دا چې د پښتون ژبه به خامخا پښتو وي
وي، دريمه دا چې «پښتون وګړي هرسړی به د پښتنو قبيلو د يوې نه يوې
قبيلې نه وي. د اسلامي نړۍ په هيڅ ملک او هيواد کې څوک دادعوی نشي

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# د دریم ټولګي پروګرام

دا یو ثابت حقیقت دی هغه زده کړې چې د دوهم ټولګي څخه بریالي کېږي او د دریم ټولګي سبقونو ته د لوستلو دوام ورکوي دغه زده کړې باید په املاء لیکلو، کتاب لوستلو د لفظونو په استعمال کې د پوهې قدرت تر یوې اندازې حاصل کړي وي نو دغه زده کړو ته د ژر بې د پوهې له پاره ښوونکي ته ضرور دي چې لاندیني هدایات په نظر کې ونیسي او د تدریسي پلان په مطابق دې عمل وکړي.

۱- ښوونکي ته ضروري ده چې د درس موضوع د قصې په شکل زده کړو ته بیان کړي او توجه دې وکړي چې دغه د موضوع تشریح دې د تصویري شیانو د ارتباط له مخې وي او درې ځلې دې ورته تکرار کړي او په مجسم دول دې دوه یا درې شاګردان د ټولګي مخې ته په نوبت او ترتیب سره راوغواړي او درس دې پرې بیان کړي او ښوونکي دې د دغه کار د ادا نه وروسته د کتاب له مخې په اصل موضوع یا د درس په قرائت باندې پیل وکړي او دغه درس درې کرته باید زده کړو ته تکرار کړي او همدا رنګه دې دغه درس ته په مجسم دول د ټولګي مخې ته څو تنه زده کړي راوغواړي او د دغه

درس قرائت دې پرې وکړي او په ضمن کې دې کم زوري زده کړي هم تر نظر لاندې نيسي او ورپسې دې سمدستي د درس مطلب او نتيجه او د مشکلو الفاظو معنیٰ دې ښوونکی هم وکړي او برسېره په دې مشکل الفاظ د معنیٰ سره دې په توره تخته هم وليکي او زده کړي دې هم دغه عمل مجسماً ترسره کړي او ښوونکی بايد د درس هر اړخيزه موضوعات روښانه کړي او په شاګردانو دې مشق او تمرين کړي او بيا وروسته دې د څو تنو شاګردانو څخه د درس ارزيابي او کره کتنه هم وکړي او په آخره کې دې د يوې موضوع په باره کې د کورنۍ وظيفې هم زده کړو ته هدايت ورکړي .

www.libtool.com.cn

# حمد

www.libtool.com.cn

په نامه د هغه خدای چې دا بیان دی — چې یو نوم یې په نومونو کې سبحان دی
هم پادشاه دی د جمله و پادشاهانو — هم د هر یوه سلطان په سر سلطان دی
هغه کار چې و هر چا وته مشکل وي — هغه کار واړه ده وته آسان دی
څوک آفتاب شي په آسمان راخېژولی — ده آفتاب راخېژولی په آسمان دی
څوک د لمر په مخ حجاب شي غوړولی — ده پټ کړی لمر په ابر کې پنهان دی
څوک له خاورو شي یو ګل پیدا کولی — ده له خاورو پیدا کړی ګلستان دی

په سجود یې ځمکې سر دی لګولی
هم یې ځوړند په رکوع سره آسمان دی

«رحمان بابا»

| شمیره | لغات | معنی | شمیره | لغات | معنی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سبحان | پاک | ۵ | حجاب | پرده |
| ۲ | سلطان | پادشاه | ٦ | ابر | وریځ |
| ۳ | مشکل | سخت | ۷ | پنهان | پټ |
| ۴ | آفتاب | لمر | ۸ | ګلستان | باغ |

www.libtool.com.cn

# د ځلورم ټولګي د پښتو ژبې د زده کړې پروګرام

د ژبې د زده کړې د قانون له مخه دا بریښېږي هغه شاګردان چې ځلورم ټولګي ته بریالي کیږي او د ځلورم ټولګي د درسونو لولي دغه شاګردان به ترهغې اندازې پورې د ژبې په اورېدلو - لوستلو - خبرو کولو لیکلو او پوهېدلو او د زیاتو موضوعاتو په حفظ کې قدرت او مهارت حاصل کړي وي چې د دغه پورته ذکر شوي ټولګي د ټولو مضمونونو د ژبې په - لوستلو - لیکلو او هم د (املاء او انشاء) د لیکلو په اصول کې د پوهې قدرت ولري ځکه چې د دغه ټولګي مضمونونه نسبت دریم ته د (کمیت او کیفیت) له کبله ډېر تفاوت لري او همدا رنګه لکه چې څرګنده ده د ځلورم ټولګي مضمونونه مختلف او موضوعات یې هم مختلف دي او په عین حال کې انکشاف لري او د بلې خوا یې د مضمونونو او د پرو درسونو مهم شرط د حفظ ضرورت دی نو بر سېره په دې اساس د ژبې پوهانو تر نظره دا ثابته ده چې د پوهنې د حاصلولو په عمومي صورت کې د ژبې پوهه لومړۍ وسیله ده نو د ژبې ښوونکي ته دا ضروري ده چې د ژبې په پوهولو زده کړه او تدریس کې (د کتاب اورېدلو - خبرې کولو - لوستلو لیکلو - املاء انشاء) کې دغه زده کړه ته زیاته پوره برخه ورکړي او په دې باره

www.libtool.com.cn

کې دې زده کړې اعاده کړي او زده کړي دې ځیرکه کړي ترڅو چې دپوهې ظرفیت په کې تولید شي همدارنګه د ژباړې د پوهې او زده کړې په سلسله کې ښوونکي ته لازم دي چې د ساده نظمونو او شعرونو معنیٰ او تشریح زده کړو ته د موضوع سره برابره وکړي او د شعر مطلب او نتیجه دې ورته روښانه کړي او د مشکلو الفاظو معنیٰ دې په توره تخته هم زده کړوته وليکي او بیا دې دغه عمل د شاګردانو څخه اعاده کړي ترڅو چې د ژباړې د زده کړې ارخونه او همدارنګه په آینده کې د اوچتو او عالي شعرونو د معنیٰ او مفهوم په نزاکت او باریکۍ خبر او چمتو شي چې د دې پوهې له امله د زده کړو د تقریر او بیان قوه هم اوچته شي او د بیدارۍ حس په زده کړو کې انکشاف پیدا کړي.

. . . . . . . . .

# دوطن ترانه

www.libtool.com.cn

ځمونږ ګرانه وطنه افغانستان وطنه
ځمونږ روښان وطنه اوسې ودان وطنه
مونږه اولاد دافغانانو او ته جهان یې ځمونږ
دژوند بوستان یې ځمونږ
مونږ دې آباد غواړو تل دې آزاد غواړو
خپل اتحاد غواړو په تا کې ښاد غواړو
ستا په تازه هوا ښایسته ځمونږ ځوانان وطنه
افغانستان وطنه
ته دغازیانو کور یې ته د پوهانو کور یې
دښو ځوانانو کور یې دافغانانو کور یې
په تا کې غواړو دیوه بله دعرفان وطنه
ځمونږه ګران وطنه

| ګڼه | لغتونه | معنی | ګڼه | لغتونه | معنی | ګڼه | لغتونه | معنی | ګڼه | لغتونه | معنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | روښان | ځلیدونکی | ۴ | اباد | ودان | ۷ | ښاد | خوشحال | ۱۰ | ډیوه | څراغ |
| ۲ | اولاد | زامن اولوڼې | ۵ | آزاد | خپلواک | ۸ | غازیان | اسلامي جنګیالي | ۱۱ | عرفان | پوهنه |
| ۳ | بوستان | باغ | ٦ | اتحاد | یووالی | ۹ | پوهان | هوښیاران | | | |

# سيد جمال الدين افغاني (رح)

www.libtool.com.cn

سيد جمال الدين افغاني (رح) جلال آباد پورې نږدې دکنړ په ولايت کې په اسعد آباد کلي کې په ۱۲۵٦ هجري قمري کې زيږيدلی وه. دی د افغانستان د سادات و کورنۍ څخه وه. د پلار نوم يې سيد صفدر شاه وه چې کوم ډېر لوی عالم وه. سيد جمال الدين افغاني (رح) ابتدايي تعليم د خپل پلار څخه کړي وه. بيا کابل ته لاړ او نور ديني او عصري تعليمونه يې هلته وکړل افغاني چې دا تلسو کالو شو. د پلار د وفات نه پس سيد صاحب حج ته لاړ چې حج نه بېرته راغلو دافغانستان پاچا دوست محمد خان خپلو دلباريانو کې شامل کړو. خو سيد صاحب دلباري ژوند خوښ نه کړو او د حاکمانو د مخالفت له مخه دافغانستان څخه ووت. بيا مصر ته لاړ. د مصر عالمانو د سيد صاحب ډېر قدر وکړو. او ډېر عالمان يې شاګردان شول. دوی کې يو لوی عالم محمد عبده هم وه په مصر کې افغاني صاحب يوه رساله — اَلْعُرْوَةُ الوُثْقىٰ جاري کړه چې معنی يې (محکمه رسی) ده. غرض يې دا وه چې د دنيا ټول مسلمانان دې يو وحدت شي او د استعماريت مخالفت ته به په هر ځای کې لاس واچوي. د اسلام غليمانو دا کله غوښته ؟ د يورپ دواکدارانو په لمسون د مصر نه وشړلې شو. مصر نه پس افغاني صاحب د ترکيې دارالحکومت قسطنطنيه کې د اسلامي اتحاد چيغې ووهلې. د ګل عالم مسلمانانو ته يې وويل چې اتفاق وکړئ او د يو اسلامي بيرغ لاندې راټول شئ. ترمرګه پورې سيد صاحب

داکوشش وکړلو چې د نړۍ په همه وارو مسلمانانو کې صحیح روح پیداشي. دری شپیته کلنۍ کې په ۱۳۱۶ هجري قمري کال په استنبول کې وفات شو او هلته ښخ کړی شو. بیا په ۱۹۳۹ کې د مرحوم سید تابوت په ډېر احترام او عزت کابل ته راوړلی شو او د کابل د پوهنتون په احاطه کې ښخ کړی شو.

www.libtool.com.cn

| ګڼه | لغتونه | معنی | ګڼه | لغتونه | معنی | ګڼه | لغتونه | معنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | زېږېدلی | پیداشوی | ۵ | وفات | مړشوی | ۹ | استعماریت | زوراوظلم |
| ۲ | عالم | پوه | ٦ | دلباریان | حکومتي | ۱۰ | غلیمان | دښمنان |
| ۳ | عصري | وختي | ۷ | وحدت | یووالی | ۱۱ | لمسون | شیطانی |
| ۴ | دارالحکومت | حکومتي مرکز | ۸ | بیرغ | جنډه | ۱۲ | تابوت | دمړي صندوق |

# ښه خوی

په خویونو کې ډېر فرق دی
که سړی پرې خبردار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا
چې خپل هم ځنې بېزار شي
ځینې هسې خوی آغاز کا
چې پردي یې خدمتګار شي

«خوشحال ختک»

| ګڼه | لغتونه | معنی | ګڼه | لغتونه | معنی | ګڼه | لغتونه | معنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ښه خوی | ښه عادت | ۳ | فرق | بېلوالی | ۵ | آغاز | پیل |
| ۲ | بېزار | پرېښودونکی | ۴ | خدمتګار | خدمت کوونکی | ٦ | خبردار | آګاه |

www.libtool.com.cn

# داووم او داتم ټولګیو د پښتو مضمون د ژبې پروګرام

۱- د تعلیم او پوهنې د قانون له مخې او د پښتو ژبې د ستر و استادانو او هم د روحیاتو ماهرینو تر نظره دا ثابته ده چې داووم او اتم ټولګیو زده کړو ته تر هغه اندازې پورې باید ښوونکی د ژبې پوره معلومات ورکړي چې د دغه ټولګیو د ټولو مضمونونو د زده کړې د جذب اهلیت او قابلیت ولري یعني په املاء او انشاء لیکلو کې او همدارنګه د ټولو درسونو پوهې او حفظ کې لوی لاس ولري. نو بنا په دې اساس ښوونکي ته دا ضروري ده چې د زده کړو د ژبې او پوهې د ډېرو موضوعاتو په لاروچارو کې زیار وباسي او د زده کړو د لاسې د ژبې د سوې او چتولو په هکله په مناسب ډول ګام په ګام د ژبې تدریس مخکې بوزي. او خصوصاً د اشاراتو، د نیمګړو جملو پوره کول دې په زده کړو کار وکړي.

۲- ښوونکی ته په کار دي چې د تدریس په وخت کې د درس ټولې فقرې په تطبیقي شکل د کړام په داخل کې شاګردانو ته وښايي او هم دې د خاص مهال ویش د مخې نیغ په نیغه د ګرامر تدریس هم وکړي چې په معیاري ډول د ژبې د پوهې سطحه یې لوړه شي.

۳- د ژبې ښوونکي ته داضروري ده چې د ژبې زده کړه شاګردانو ته د تدریسي پلان په مطابق ترسره کړي. لکه چې مخکې یې یادونه شویده په هغې کتنه وشي او بیا تدریس ورکړشي.

۴ـ د ژبې ښوونکي ته په کار ده چې د پښتو ژبې د سترو او نامتو ادیبانو او شاعرانو او نامتو ښکیالي قهرمانانو د کارنامو څخه او هم د هغوی د بیوګرافۍ څخه زده کړې خبر او پوه کړي. لکه په لاندې درسونو کې:

www.libtool.com.cn

# د اصلاح لاره

اوریدلي مو دي چې د انګلستان پادشاه پنځم جارج د تخت د کښېنا ستلو نه مخکې یو وخت امیرالبحر مقرر شو. د هغه ځای قاعده ده چې هر نوی آمر کومې ادارې ته چې ورشي نو لومړی څو ورځې خاص د دغه ادارې دفترونه ګوري، علم راولي، او وروسته په کار شروع کوي.

پنځم جارج په دې سلسله کې کوم وخت چې د مامورینو د سوانحو دفتر ګوري، د یوه سړي د سوانحو پاڼې یې ولوستلې چې څو اخوره آمران په هغه تېر شوي وو، ټولو په سرو قلمونو په دغه پاڼو کې د دغه شخص بیکاري او بداخلاقي لیکلې وه.

امیرالبحر (جارج) دغه سړی راوغوښت او ده د سوانحو پاڼې یې ورښکاره کړې چې دغه دی ستا آمرینو ستا په باب کې دا یاد داشتونه پرېښي دي مګر زه نه غواړم چې ستا د سوانحو پاڼې په بد عمل ډکې وي زه غواړم چې ته یو کاري او اخلاقي سړی شې، دغه دی زه ستا په مخ کې ستا د سوانحو پخوانۍ لایحه شکوم.

نو ده د سوانحو لایحه یې وشکوله دریاب ته یې واچوله او ورته وېل د دې ورځې نه وروسته ستا سوانح بیا د سره څخه لیکل کېږي. او س ته پوره اختیار لرې چې د خپلو سوانحو په لایحه کې د هر شي په لیکلو راضي او سې هغه به

کولي چې په دغه وطن کې غیرمسلمان نشته عرب دی که ترک وي که سوډان وي یا اندونیشیا ، دی هرځای او هرقام اوولس هم ددغې قام تحته غیرمسلمان موجود وي . لیکن پښتنوکې غیرمسلمان هډو په تصورکې هم نه شي راتلای نو ځکه ددې وګړی او قام دنسل اودده دژبې دتحقیق په لړکې باید چې داخبره هیڅکله دذهن نه وته وېستی شي چې داوګړی دابتداء نه په خپل دین آئین اوژبه ټینګ ولاړ راغلی دی. یادلرل په کار دی چې که نړۍ دیومخ نه په بل مخ واوړي ددې قام ژبه به او هم آئین به پښتو وي. سره ددې چې د تاریخ په دوروکې دنوروبهرني خلکوله په نورونوموکې ذکرشوی دی. لیکن پښتون په غیرد پښتون نه بل نوم نه مني .

www.libtool.com.cn

ولیکل شي . وایي چي د دې واقعې څخه د دغه سړي په حیات اوژوندکي داسې عمیق اثر ولوېد چي تر دې وروسته هغه بېخي بل سړی شو او ښه ښه خدمتونه یې د لاسه وشو .

www.libtool.com.cn

| شمېر | لغتونه | معنی | شمېر | لغتونه | معنی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سلسله | لړ | ۴ | عمیق | ژور |
| ۲ | سوانح | کیفیت او احوال | ۵ | خدمت | زیار |
| ۳ | لایحه | اصول نامه | | | |

# نظم

راشه حال د زماني ښنته له ما — مخلص، لویه تجربه لري په دا
که هنداره دانصاف ورکړم په لاس — پکې ویني به سړی مخ د بلا
که نقصان د دنیا بولې پرځان تریخ — دامنه چي بل ته هم دی تاوان تریخ
نړۍ ستن که په ځان چخ کې ته شي خوږ — پرما هم کښه د تېږو باران تریخ

د پورته نظم مطلب په نثر کي :- مخلص شاعر وایي، راشه د زماني حال زما څخه وپوښته ولي چي زه په دې کي لویه تجربه لرم. که د انصاف هنداره ستا په لاس درکړم نو ته به د سړي مخ د بلا په شان پکي ووینې. که ته د دنیا نقصان پخپل ځان تریخ بولې نو دا ښه ومنه چي پر بل چا هم د دنیا تاوان تریخ دی .

د پورته نظم خلاصه مطلب :- مخلص وایي، چي ما د زماني په خلکو ډېره تجربه کړېده. که څوک د خپل ځان نقصان او بدي نه غواړي نو د نورو په نقصان او بدی رسولو کې دې کوښښ نه کوي . ښه چي پر خپل ځان ښه ګڼي نو پر نورو باندي یې هم ښه ګڼه. د او د پورته نظم مطلب چي ولیکل شو.

# د لومړي ټولګي او پنځم ټولګي د ژبې د زده کړې

## د مقاصدو مقایسه

www.libtool.com.cn

### مشاهده کونه

| لومړی ټولګی | پنځم ټولګی |
|---|---|
| ۱- د خپل کور، کوڅې، ماحول او ښوونځي کې د مشخصو شیانو نومونه واخستلای شي یعنې په هغو شیانو چې د هغې درک د پنځو حواسو له مخې کولای شي. | ۱- چېرته خاص مهم ځای ته چې لاړ شي د هغې په هکله ورته یو څه اندازه معلومات حاصل شي |
| ۲- په چاپېریال کې د موجودو شیانو په هکله خبرې اترې وکړای شي او د هغې د استعمال نه هم باید خبر شي. | ۲- د چاپېریال د شیانو مختلف استعمال کول او په کار راوړل وښیي او پرې ډېرې زیاتې خبرې وکړای شي. |
| ۳- د تصویرونو په مرسته ویلی شوی قصې په خپلو لفظونو کې تکرار او تمرین کړای شي. | ۳- د اشارو په مرسته نامکمله او نیمګړې قصې مکملې او پوره کړای شي. |
| ۴- د ورځني شیانو، رنګونو قد او قامت کې توپیر وکړای شي. | ۴- هر ډول واقعات او پېښې او تجربې چې پرې تېرېږي یا یې ویني هغه په خپلو لفظونو کې بیان کړای شي. |

۵- توري يوائحنى حالت كې وپېژني.
۶- د تورو درې واړه حالتونه هم وپېژني.

www.libtool.com.cn

# اوريدل

## لومړي ټولګی

۱- په چاپيريال کې موجود اوازونه جلا جلا توپير کړای شي.
۲- د هم آوازه تورو لکه "ج" او "ژ" توپير وکړای شي.
۳- په ارامۍ سره واوريدای شي.
۴- تقريري يازباني هدايت يا حکم چې واوري نو ور باندې پوه شي.
۵- د سمعي آلاتو په خبرو وپوهيږي.
۶- د لهجې نه احساسات معلوم کړای شي.

## پنځم ټولګی

۱- په خبرو باندې پوره توجه ورکولای شي.
۲- په خبرو اوريدو کې تکليف محسوس نه کړي.
۳- ريډيو او ټيپ واوريدای شي او پرې وپوهيږي.
۴- چې شعرونه واوري نو ځينې ورته په حفظ او يادکې پاتې شي.
۵- صحيح پيغام وسونه وکړای شي.
۶- ټيليفون باندې خبر وصول او حاصل کړای شي.

# خبرې کول

## لومړي ټولګی

۱- خپل کور او چاپيريال په هکله درې دقيقو پورې خبرې وکړي شي.
۲- خبرې کولو کې ويره او شرم محسوس نه کړي.
۳- ويلې خبره چې بيا بيا تکرار نکړي.

## پنځم ټولګی

۱- خپل مشاهدات او تأثرات په آسانۍ بيان کړي شي.
۲- خپل خواهشات او تمناګانې په ښه انداز واوروي
۳- چې کمې غونډې ته تقرير وکولای شي.

## لومړی ټولګی

۴- په غیر د څه عذر نه نښتې او په سلګو خبرې و نه کړي

۵- په ر، ړ، یا ژ، ږ خبرې و نه کړي .

۶- د ماشومانو نظمونه او قصې واورو لی شي .

۷- او رېدلې خبره په خپلو خبرو کې بیان کړای شي .

## پنځم ټولګی

۴- تلفظ او لهجه دې صحیحه کړي.

www.lib.com.cn

۵- په مباحثه کې حصه واخلي او دلیلونه وړاندې کړي .

۶- د خپل چاپیریال په شخړو او واقعاتو خبرې وکړای شي.

۷- په تسلسل سره د فکر او خیال اظهار وکړای شي .

۸- په ډرامګی کې برخه واخستی شي .

# لوستل

## لومړی ټولګی

۱- توري او الفاظ په شکل او اواز تر منځه وپېژني .

۲- توري په درې وارو حالتونو کې وپېژني.

۳- د الفاظو مطلب باندې پوه شي.

۴- واړه ماشومان قصې ولوستی شي.

۵- د مرغیو او ځارویو لو بو په هکله معلومات حاصل کړی شي.

## پنځم ټولګی

۱- (خط) ورځ پاڼه او داسې نور ولوستی شي او مطلب ترې واخستی شي .

۲- نظم ولوستی شي او څه ترې یاد کړی شي.

۳- نسبتاً زیاته مطالعه وکړی شي .

۴- څه اندازه اوږدې قصې او متن ولوستی شي.

۵- اسان ساینس او تکنیکی معلومات حاصل کړی شي .

www.libtool.com.cn

# لیکل

## نومړی ټولګی

۱- د قلم - تباشیر او پنسل ونیول شي.

۲- په کوټه تباشیر او پنسل بې ترتیبه راکښل کړی شي.

۳- د ټکو او غاښو اهمیت ورته معلوم شي.

۴- توري جلا په سرکې، مینځ کی او - آخرکې و پیژندی او ولیکلی شي.

۵- د تورو او ساده الفاظو املاء ولیکي.

۶- پوره لفظ ولیکلی شي.

۷- نقطې، غاښې، او دایره صحیح صحیح راکاږی.

۸- بې ترتیبه چارټ جوړ کړی شي.

## پنځم ټولګی

۱- ښایسته او ښکلی لیک ولیکلی شي.

۲- سوالیه، نخښه، دیش په خپل خپل ځای ولیکلی شي.

۳- پیرګراف جوړ کړی شي.

۴- درخواستونه، خطونه او دعوتنامې ولیکلی شي.

۵- په املاء کې غلطي ونه کړي.

۶- په تباشیر تخته په روانی سره ولیکلی شي.

۷- خپل تأثرات ولیکلی شي.

۸- د خپل صنف یا ټولګي د پاره ښکلی چارټ جوړ کړی شي.

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

# پښتو پښویه یاګرامر

## «پښتو الفبا»

د پښتو الفبا او توري (۴۲) دی، ا۔ ب ۔ پ ۔ ت ۔ ټ ۔ ث۔ ج ۔ چ ۔ ځ ۔ څ ۔ ح ۔ خ ۔ د ۔ ذ ۔ ډ۔ ر۔ ړ۔ ز۔ ږ ۔ ژ۔ س۔ ش۔ ښ۔ ص۔ ض۔ ط ۔ ظ۔ ع ۔ غ ۔ ف ۔ق ۔ ک ۔ ګ ۔ ل ۔ م ۔ ن ۔ ڼ ۔ و۔ ه ۔ ۀ ۔ ې ۔ ی .

په دغه تورو کې (۲۲) دوه ویشت توري د پښتو او دري ترمنځ شریک دي؛ او (۸) اته لاندېنی توري چې د پښتو خاص توري دي، لکه: ټ ۔ ډ ۔ څ ۔ ځ ۔ ږ ۔ ړ ۔ ښ ۔ ڼ ۔ یوازې په پښتو کې استعمالیږي ، په پښتو کې د عربي ژبې دغه لاندې توري چې د عربي ژبې خاص توري هم دي استعمالیږي : ذ ۔ ث ۔ ح ۔ ص ۔ ض ۔ ط ۔ ظ ۔ ع ۔ ف ۔ ق . مګر په پښتو کې دغه توري نه راځي او که په کومو کلمو کې دغه توري وي نو اصلاً به دغه پښتو نه وي .

# كومكي غږونه

www.libtool.com.cn

كومكي غږونه په پښتوكي په دوه ډوله دي. اول ډول يې خوځندي (حركتونه) دوهم ډول يې توري دي. موږ ټول اصلي توري د دغه غږونو په مرسته ويلاى شو؛ او پښتوكې لا ندېني خوځندي موجود دي.

الف ؛ زور لكه؛ وَر- غَر- غږ ....

ب ؛ زوركى لكه؛ وڅ- مڅ- ....

ج ؛ زېر لكه؛ عِلم- بِل- حس....

دا خوځندي اوس د پښتو كلمو په سركي نه راځي او په دخيلو كلماتوكي استعمالېږي.

د ؛ پېښ ؛ لكه تجاهُل- تغافل- تحمل.... دا خوځندي هم دري او- عربي كلماتو ر دخيلوكې راځي.

هـ ؛ په پښتوكې كله كله په يو نيم حركت باندې د آواز زيات فشار او زور راځي چې هغه ته ټج وايي او دټج په راتلو سره دكلمې معنىٰ دبلې ځخه توپير پيداكوي لكه ؛ غوټه- كه دآواز زور په اوله څپه باندې راشي نو (غوټه) دكندې معنىٰ وركوي اوكه په دوهمه څپه باندې زور راشي يعنى په (ټ) باندې نو دغوټې معنىٰ وركوي.

# كومكي توري

په پښتوكې كومكي توري څلور دي، مګر هغه وخت كومكي كڼل كېږي چې ساكن توري وي او دمخه تري بل كومكي توري نه وي، دغه توري په وروسته ډول دي. ( الف- واو- ى- ه).

ا- الف ؛- دكلمې په منځ، اول او آخركې راځي لكه ؛ بابا- انا - لار او نور....

۲- واو :- په پښتوکې په څلور ډوله دی ؛

a: نرم واو ؛ چې نرم ویل کېږي او د مخه توری یې زور ولري لکه؛ لَو- پَلو- چلو...

b: ځرګند واو ؛ چې د مخه توری یې ځرګند او د روند پېښ ولري لکه؛ الو- کچالو- تالو...

c: کوچنی واو ؛ چې د مخه یې لنډ سپک پېښ موجود وي لکه ؛ لُمړي- تاسو...

d: اوږد واو ؛ چې اوږد او نرم ویل کېږي او د مخه توری یې اوږد ویل کېږي او اوږد پېښ لري لکه ؛ زانګو- پېشو- بیزو- پښتو....

۳- ی :- په پښتوکې پنځه ډوله ده ؛

a: نرمه ی ؛ چې پسته ویل کېږي او د مخه توری یې زور ولري لکه ؛ سړی- اوری...

b: ځرګنده ی ؛ چې د مخه توری یې ځرګند او د روند زېر ولري لکه خپلوي - دوستي....

c: زورکې والا ی؛ چې د مخه توری یې زورکی ولري او د کلمې په آخرکې راځي لکه؛ چوکۍ- خولۍ...

d: اوږده ی؛ چې اوږده ویل کېږي او د مخه توری یې اوږد زېر ولري لکه؛ شیدې- مڼې...

e: کوچنۍ ی ؛ چې د مخه توری یې لنډ زېر ولري لکه ؛ لاندې- باندې- لاړې....

۴- ه :- په پښتوکې په دوه ډوله ده ؛

a ؛ ځرګنده او لویه ه ؛ هغه ه ته وایي چې د مخه توری یې زور ولري لکه چوغکه، غولکه او داسې نور...

b ؛ پټه یا کوچنۍ ه ؛ هغه ه ده چې د مخه توری یې زورکی ولري لکه: نیکه- مرغه....

## د کلمو قسمونه او د کلام توکي

هغه لفظ چې دیوې معنیٰ او یوه مقصد لپاره د خولې او ژبې څخه راوزي کلمه بلل کېږي یا په بل عبارت معنیٰ دار لفظ ته کلمه ویل کېږي. موږ د یو مقصد د څرګندولو لپاره پوره احتیاج یو چې څو کلمې سره یوځای کړو. د کلمو د یوځای کولو څخه کلام جوړېږي ؛ په پښتوکې د کلمو قسمونه او د کلام توکي په لاندې ډول دي؛

۱- اسم یا نوم ؛ چې د یو شي نوم وي لکه؛ چوکۍ- کلالی- چرګ...

**۲- ضمیر** :- چې د اختصار او لنډیز په غرض استعمالیږي لکه: زه- ته- هغه . . . .

**۳- صفت** :- چې د یو نوم حالت او څرنګوالی بیانوي لکه: تور- سپین- ډېر- لږ . . . .

www.libtool.com.cn

**۴- فعل** :- هغه کلمې ته وایي چې په یوه زمانه کې په یو کار یا عمل باندې دلالت وکړي لکه: ځم- راځم . . .

**۵- ادات یا توري** :- هغه دي چې مستقله او خپلواکه معنیٰ نه لري او د فعل او د نومونو سره دیو معنیٰ لپاره استعمالیږي لکه: ژر- ژر- نن پرون . . . .

## د مفهوم له مخې د نوم ډولونه

نوم د معنیٰ او مفهوم له مخې په پنځه ډوله دی:

**۱- خاص نوم** :- چې یو خاص سړی یا خاص شی را معرفي کوي لکه: رحمان بابا سید جمال الدین افغاني . . . .

**۲- عام نوم** :- هغه نوم دی چې خاص شی یا خاص سړی ترې نه مرادیږي او په ټولو شیانو دلالت کوي لکه: ښار- موټر- رکشا . . . .

**۳- د جنس نوم** :- هغه دی چې په لږو او ډېرو باندې یو شان دلالت کوي لکه: اوبه- بوره- تېل- کاغذ . . . .

**۴- د جمعیت نوم** :- هغه دی چې په لفظ کې مفرد او په معنیٰ کې د یوې ډلې او جمعیت لپاره راځي لکه: رمه- جرګه- اولس . . . د جمعیت نوم د ډېرو په لحاظ هم جمع کېدی شي لکه: جرګې- رمې . . . .

**۵- مجرد نوم** :- هغه دی چې مادي وجود نلري او په سترګو نه لیدل کېږي لکه: عقل- پوهه- ویره- وجدان . . . .

## د جوړښت په لحاظ نوم په دوه ډوله دی

**۱- بسیط نوم** :- هغه نوم ته وایي چې مفرده کلمه وي او نور توکي و نه لري لکه: لاس

ميز - اور - کټ . . . .

۲- مرکب نوم :- هغه نوم دی چې د دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړ شوی وي لکه:
www.libtool.com.cn
جلال آباد - شیرپور - کندهار . . . مرکب نوم کله کله په لنډ او مرکب صورت سره هم راځي لکه: ترله (د تره لور) تروږزی (د تروږ زوی) . . . .

## مذکر او مؤنث

ټول نومونه په پښتو کې د کیفیت او جنسیت له مخې په دوه ډوله دي یعنې نرینه او ښځینه - او د هغه دواړو ډولونو ځینې نخښې لري چې په وروسته د ول ښودل کیږي.

۱- نرینه نوم نخښې :- کوم نومونو او صفتونو کې چې په پای کې وروسته د غه علامې راشي مذکر یا نرینه نومونه ګڼل کیږي.

a: نرمه ی :- لکه: سړی - لړکی - منګی . . . .

b: ځرګند واو :- لکه: چاقو - تالو - الو - میلو . . . .

c: کوچنۍ (ه) :- لکه: تره - نیکه - ساره . . . .

d: نرم واو :- لکه: لو - پلو - چلو . . . .

e: هغه ټول نومونه چې په آخر کې اصلي توري راغلي وي مذکر ګڼل کیږي لکه: لاس - اور - غل - مل - چل - شل . . . .

**یادښت** :- هغه ساکنه (ی) چې د مخه یې ساکن (واو) یا (الف) وي د اصلي توري حکم لري لکه: چای - زوی - ځای . . . .

۲- ښځینه نوم نخښې :- هغه نوم کې او صفتونو کې چې په اخر کې یې د غه وروسته نخښې راغلی وي مؤنث یا ښځینه نوم ګڼل کیږي:

a: ځرګنده ه :- لکه: اسپه - لخته - توره - سپینه . . .

www.libtool.com.cn

# د پښتو ژبې اهمیت

۱- د تهجي حروفو په میدان کې که مونږ وګورو نو د پښتو ژبې په دغه باب له ښه او پراخه برخه رسیدلې ده ځکه چې نه د انګریزي او نه د عربي او فارسي حروف او همداسې د اردو د تهجي حروف دومره توري لري. د واقعیت او مشاهدې له مخې د پښتو د تهجي حروف د څلوېښت نه زیات وکم لري، اردو ژبې سره یو دېرش توري د عربي ژبې یوکم دېرش، فارسي سره اته ویشت او د انګریزي سره خوا یله بیله شپږ ویشت توري دي د تورو د زیاتوالي نه د پښتو ژبې پراخوالی او انکشاف ثابت دی او د ژبې د پراخوالي ثبوت دا دی چې په دې کې د نورو ژبو د تورو او الفاظو ځېلو لوا اهلیت شته دی ځکه که مونږ ښې دقت ته وګورو نو نورې ژبې په ځینو ځینو ځایو کې د پښتو الفاظو ځېلو لوکې پاتې راځي.

مطلب دا شو چې پښتو ژبه لکه د ځېلو ویونکو خوی لري لکه د مثال په ډول د مېلمه لفظ دا سې مېلمستیا کوي چې د غه مېلمستیا یې ځېلوې کې بدله شي.

۲- پښتو ډېره زړه ژبه ده او لکه څنګه چې یې د ویونکو خوی بوی، کړه وړه، ناسته پاسته، دود او دستور کې خپل مخصوص انداز لري د غه انداز د دې ژبې هم دی

# SOS/PG* BELGIUM-SOLIDARITE AFGHANISTAN

www.libtool.com.cn

PER GENTES PRO GENTIBUS

Solidarité Afghanistan



دافغان مهاجروښوونکولپاره تربيتي پروګرام

# پښتو PASHTO

مرتب: عبدالصبور «عزيزي»

څېړونکی: سيد منظرجان «ساجد»

دسمبر کال ۱۹۸۷-م

# SOS/PG* BELGIUM-SOLIDARITE AFGHANISTAN

www.libtool.com.cn

PER GENTES PRO GENTIBUS

Solidarité Afghanistan



دافغان مهاجرو ښوونکو لپاره تربيتي پروګرام

# PASHTO پښتو

مرتب: عبدالصبور «عزيزي»

څيړونکی: سيد منظرجان «ساجد»

دسمبر کال ۱۹۸۷ م

www.libtool.com.cn

# فهرست


| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | دپښتو ژبې تاریخ | |
| ۲ | دپښتو ژبې اهمیت | |
| ۳ | دماشوم د ژبې د زده کړې لومړی.... | |
| ۴ | تصویرونه، چارټونه، ماډلونه | |
| ۵ | دلیک او لیکلو مهارتونه | |
| ۶ | دلومړۍ زده کړې منشا او مقاصد | |
| ۷ | دپښتو ژبې د زده کړې خاص مقاصد | |
| ۸ | د ژبې د زده کړې بنیادي اصول | |
| ۹ | د پښتو زده کړې لارې چارې | |
| ۱۰ | د ژبې زده کړې زړې پوړې لارې چارې | |
| ۱۱ | دشغل تحریک | |
| ۱۲ | دلوبو تحریک - د رشک او تضاد تحریک | |
| ۱۳ | توره تخته | |
| ۱۴ | کره کتنه | |
| ۱۵ | دښه لیک د زده کړې لارې چارې | |
| ۱۶ | دلیک ښکلې نښانې | |
| ۱۷ | دلیک زده کړه کې داملاء اهمیت | |
| ۱۸ | داملاء اصول | |
| ۱۹ | انشاء لیکنه | |
| ۲۰ | متلونه | |
| ۲۱ | لنډۍ | |
| ۲۲ | دپښتو ژبې د نورو ژبو.... | |
| ۲۳ | شفاهي تمرینونه | |
| ۲۴ | دکلیدی الفاظو استعمالول | |
| ۲۵ | دربطیه کلماتو استعمالول | |
| ۲۶ | دمشخصه موضوع تمرین | |
| ۲۷ | دمشتق نوم ځینو نورو نمونه | |
| ۲۸ | دنیمګړې جملې پوره کول | |

| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۹ | دلنډې جملې بدلول په اوږدې ..... | |
| ۳۰ | دربطیه کلموپه واسطه دموضوع ..... | |
| ۳۱ | د پښتو اصطلاحاتو استعمال .... | |
| ۳۲ | داستفهامي کلماتو استعمال | |
| ۳۳ | په جملوکې دزمانو تمرینات | |
| ۳۴ | (ددویم توکی، دریم، څلورم اوترانم ..... | |
| ۳۵ | دلومړي توکی اوپنځم توکی دژبې .... | |
| ۳۶ | پښتو پښوبه (گرامر) اوکومکي .... | |
| ۳۷ | دکلموقسمونه اودکلام توکي | |
| ۳۸ | دمفهوم له مخې دنوم ډولونه او .... | |
| ۳۹ | دمؤنث ډولونه اومونث جوړونه | |
| ۴۰ | مفرد اوجمع | |
| ۴۱ | ښځینه جمعې | |
| ۴۲ | داسم حالتونه | |
| ۴۳ | نه بدلیدونکي نومونه | |
| ۴۴ | په پښتوکې د پردو لغاتو قانون | |
| ۴۵ | ضمیرونه | |
| ۴۶ | فعل | |
| ۴۷ | دمصدر پېژندنه | |
| ۴۸ | دبیان علم، تشبیه | |
| ۴۹ | د تشبیه مثالونه په اشعاروکې | |
| ۵۰ | د تشبیه غرض | |
| ۵۱ | دتشبیه ادات په اشعاروکې | |
| ۵۲ | مجاز | |
| ۵۳ | استعاره | |
| ۵۴ | دتشبیه اواستعارې توپیر په اشعاروکې | |
| ۵۵ | مصرحه استعاره | |


www.pdbtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# مأخذونه

د دې کتاب په لیکنه کې د دې لاندې مأخذونو څخه استفاده شوېده .

۱ - لرېننګ ماډيولز قومي اداره نفسيات قائد اعظم يونيورسټي اسلام آباد.

۲ - ډيپل (DAPL) پاک جرمن لومړني تعليمات پېښور .

۳ - پښتو لارې چارې (پښتو اکيډيمي پېښور).

۴ - پښتو ګرامر «پښتويه» پښتو ټولنه کابل .

۵ - «علم بيان» پښتو ټولنه کابل .